إنكم تدعون يوم القيامة بأسمائكم
وأسماء آبائكم، فحسنوا أسماءكم

# د ماشومانو لپاره شرعي نومونه

شرعي نومونه ، داولاد فضیلت ، دماشومانو دم کول او شرعي علاج

ليـــکـوال

العبـد الاحـقـر عبيدالله عبيد الحنفي گلشاخيل

کــــال

2022 / Desa 20


بسم الله الرحمن الرحيم

**[ التماس ]**

**الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام علي من لانبي بعده. امابعد په لمړی قدم کي ټولو لوستونکو ته السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته وړاندي کوم بعد له سلامه هیله چي دا کتاب [ دماشومانو شرعي نومونه ] د ټولو مسلمانانو ورونو لپاره قبول وګرځي او دالله ج څخه امید لرم چي دا کتاب زما لپاره ذریعه د سعادت وګرځوي.**

**البته یوه یادونه کوم که چیري زمانه په کتاب کي لفظي تحریري یا معنوي خطایی شوي وي نو دالله ج او بیا تاسو نه بښنه غواړم ځکه دا کتاب ما په تقریبا شلو ورځو کي ترتیب کړو نو ممکن بعضي اشتباه ګاني ولري**

**همدارنګه دکتاب دحوالو نقلولو کي ما دپښتو تورو څخه کار اخیستی دی او په حروفو مي تاریخ او سنة لیکلي ده هیله لرم چي تاسو ته مزاحم نشي واقع**

**[ دکتاب تعارف او پیژندنه ]**

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | دماشومانو شرعي نومونه |
| دکتاب لیکوال | العبدالاحقر مولوي عبیدالله عبید الحنفي ګلشاخیل |
| کمپوز او ډیزاین | العبدالاحقر مولوي عبیدالله عبید الحنفي ګلشاخیل |
| کتاب لیکلو تاریخ | عقرب / 1401 20220/ Des/ 10 |
| إهداء | والدینو استاذانو او ټول امت محمدي ته |

## دموضوعاتو نوملړ


| ش | | |
|---|---|---|
| ش | دپیل خبري | 9 |
| 1 | دکتاب اوله برخه | 10 |
| 2 | حقوق الوالدين | 12 |
| 3 | دوالدینو سره احسان داسلام تقاضی ده | 13 |
| 4 | هغه اعمال چي والدينو ته درد پري رسيږي حرام دی | 14 |
| 5 | چي والدين یی ژوندي وي بیاهم جنت ته لاړ نشي هلاک دی دا کس | 16 |
| 6 | دعلماء کرامو تنبيهات | 17 |
| 7 | دوالدينو نافرماني حرامه ده | 18 |
| 8 | دوالدينو حقوق دشريعت له نظره | 18 |
| 9 | نیک اولاد والدينو ته نفع رسولی شي | 21 |
| 10 | قران کي اولادونو ته فتنه ويل شوي ده | 22 |
| 11 | داولادونو دپرورش طريقه | 24 |
| 12 | پر والدينو د اولاد حقونه | 26 |
| 13 | دجنين دحالت حقوق | // |
| 14 | دولادت نه وروسته حقونه | 27 |
| 15 | دماشوم غوږ کي داذان کولو شرعي طريقه | 28 |
| 16 | دماشوم شکرانه یا عقیقه کول [ وينه توبول ] | 29 |
| 17 | شکرانه حیوان به کله ذبح کیږي | 30 |

| | | |
|---|---|---|
| 18 | ډاکټري ته دزېري ورکول ثابت جايز عمل دى | 30 |
| 19 | دماشوم ختنه او سنت کول | 32 |
| 20 | دماشوم اولنۍ سر خريل وېښتان يې دسپينو زرو سره تلل | 33 |
| 21 | په ماشوم باندي ښه نوم ايښودل | 34 |
| 22 | غوره نوم په ماشوم مستقيم اثر لري | 35 |
| 23 | په ماشوم دانبياء کرامو ملايکو نومونو ايښودلو حکم | 36 |
| 24 | تر ټولو بهتر نوم کوم نوم دى | 37 |
| 25 | په ماشوم حرام او ممنوع نومونه | 38 |
| 26 | تر ټولو بد ترينه نوم کوم نوم دى | 41 |
| 27 | دافلح سيار ... نومونو دايښودل نه دمنعي وجه | 41 |
| 28 | غير شرعي نومونه به تغير کېږي | 43 |
| 29 | اسم کنيه نومونه ايښودل جايز دي | 44 |
| 30 | دلړى برخي اخيري تنبيه | 45 |
| 31 | دکتاب دوهمه برخه | 46 |
| 32 | شرعي نومونه | 47 |
| 32 | هغه نومونه چي د[ الله ج ] لفظ سره يو ځاى شوي وي | 47 |
| 33 | هغه نومونه چي اخير کي يې [ الرحمن ] لفظ وي | 51 |
| 34 | دالله ج هغه اسماء او صفات چي د [ عبد ] کلمه ورته مضاف وي | 55 |
| 35 | هغه اسماء او صفات چي اخير کي يې [ الدين او الحق ] وي | 57 |
| 36 | حضرت محمد ص نومونه او صفات | 59 |
| 37 | حضرت محمد ص هغه اسماء او صفات چي توصيف يې شوى دى | 62 |

| | | |
|---|---|---|
| 38 | دبعضو انبیاء کرامو ملایکو او اصحاب کهف نومونه | 64 |
| 39 | د[ پنځلس سوه] صحابه کرامو غیر مکرر نومونه | 65 |
| 40 | د [ اته سوه ] صحابه کرامو اسماء الکنی | 79 |
| 41 | دانجونو شرعي نومونه | 85 |
| 42 | دمشهورو صحابیاتو [ زر ] غیر مکرر نومونه | 93 |
| 43 | دکتاب دریمه برخه | 98 |
| 44 | دسترګو دنظر تاثیرات | 100 |
| 45 | دنظر او جادو نه دحفاظت شرعي اسباب | 102 |
| 46 | دنظر حفاظت لپاره دماشوم تندی زنه یاپوزه تورول | 103 |
| 47 | په فصلونو زراعت کي د جمجمي یا لرګیو شکل جوړول | 104 |
| 48 | دنظر شوي کس علاج | // |
| 49 | نظر شوي کس ته دسپیلني لوګی کول | // |
| 50 | په کور کي دسپین چرګ ساتل دسحر لپاره مفید دی | 105 |
| 51 | دغم او پریشانی شرعي علاج | // |
| 52 | دښځي دولادت دردونو کمولو شرعي علاج | 106 |
| 53 | دحمل دحفاظت علاج | 107 |
| 54 | دسخت زړي کس دزړه نرمیدو علاج | // |
| 55 | دشپي دشر او مصیبت نه دخلاصون علاج | // |
| 56 | دسخت غم او تکلیف لرې کولو شرعي علاج | 108 |
| 57 | دنفاق نه دځان خلاصولو شرعي علاج | // |
| 58 | دمرخیړو [ طوطي دوړی ] په واسطه دسترګو علاج | // |

| | | |
|---|---|---|
| 59 | دزمزم اوبو کمالات او شرعي حيثيت | 109 |
| 60 | دپيريانو نيول شوي کس دښه کولو لپاره شرعي علاج | 114 |
| 61 | دچا چي مسلسل انجوني پيدا کيږي دهغي شرعي علاج | 115 |
| 62 | په خوب کي دماشوم يا لوی کس د ډاريدو شرعي علاج | 115 |
| 63 | دسر درد شرعي علاج | 117 |
| 64 | د ذهن تيزولو او ژبي بنديدو شرعي علاج | 118 |
| 65 | دتبي ختمولو شرعي علاج | // |
| 66 | دسخت مشکل کار سره دمخامخ کيدو په وخت کي دنجات علاج | // |
| 67 | دنس درد شرعي علاج | // |
| 68 | دکتاب پای | 119 |
| 69 | زما نور ليکل شوي کتابونه | 119 |

## [ د پیل خبري ]

**الحمدلله رب العليمن والصلاة والسلام علي حبيب الله خير الورى امابعد.الله ج انسان ته خلقت حسنه ورکړی دی [ لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ ] او بيا يی په انسان باندي خصوصي کرم کړی دی [ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ] الله ج ټول مافي الارض دانسان تابع ګرځولي انسان ته عقل شعور او تميز ورکړی دی خو الله ج ددومره انعاماتو باوجود دانسان نه صرف يو څه غواړي هغه د الله ج اطاعت او بنده ګي دژوند په ټولو اړخونو کي د شريعت دتګلارو سره موافق زنده ګي تيرول خو انسانان او جنات بياهم ناشکره دي دپيريانو نه مخکي الله ج دالحن او البن په نامه مخلوقات پيدا کړل دخپل عبادت لپاره خو دوخت په تيريدو يی سرکشي شروع کړه الله ج دا قوم له منځه يوړل پيريان يی پيدا کړل خو دوی هم دوخت په تيريدو سرکشي شروع کړه االله ج دځمکي دهوارو نه داهم لري کړل انسان يی پيدا کړ انسان باندي يی زيات انعامات وکړل دهغي سربيره بياهم انسان سرکشي وکړه اوس که په دنيا کي وکتل شي نو ددنيا پنځلس فيصده مسلمانان جوړوي نور ټول يهوديان نصرانيان مشرکين او بت پرستان دي خو دمسلمان لپاره همدا افتخار بس دی چي ددنيا د ژوند سربيره د اخيرت لپاره هم ذخيره او اميد لري په اخيرت او بعث بعدالموت باندي يقين لري د اخيرت په ابدي ژوند يقين لري چي دا عقيده انسان دهلاکت نه را وباسي**

**نو د ّلاکت نه دخلاصون لپاره زموږ او ستاسو يواځينی دنجات لاره په شريعت باندي عمل کول دي**

**او شريعت بيا په ادب او تقوی بناء دی دادب مفهوم ترديِ منحصر ندی چي دمور او پلار ادب وکړه خو له کوره دباندي د مشر کشر ادب مه ساته نه هيڅکله دا دادب کامله معنی نده**

ادب د پيدايش نه تر قبره پوري او دسهار پورته کيدو نه تر بيا ويدو کيدو پوري دا ټول دشريعت موافق سرته رسولو ته وايی.

انسان سربيره په دحيوان او سپي هم ادب ساتي دسپي يا بل حيوان په مخ کي به خوراک نه کيږي دسپي يابل حيوان په مخ کي به بل حيوان نه قتليږي دا دحيوان سره ادب دی مقصد داچي دادب مفهوم خورا وسيع دی او ټول شريعت پري بناء دی نو څکه موږ او تاسو ته د ژوند په هر اړخ کي د شرعي ادابو مراعتول لازم دي او پر موږ باندي د شرعي ادابو رعايت فرض دی نو په همدي بناء دژوند سره له ټرلو ادابو څخه د والدينو اداب او دمولودينو اداب هم دي همدارنګه په خپلو ماشومانو دشرعي نومونو ايښودل په شرعي طريقي دهغوی علاج کول دژوند له اړتياوو او دشريعت له اوامرو څخه دي نو داچي اکثره عجم عوام د خپلو ماشومانو په نومونو ايښودلو کي او د ماشومانو دپيدايش سره هم مهاله د ماشومانو سره کردار باره کي نابلده دي نو ما عبيدالله عبيدالله الحنفي ګلشاخيل [ دپکتيکا ولايت داورګون ولسوالی دګلشايخلو دکلي اوسيدونکی ] دا قصد وکړ چي يوه داسي رساله په کم وخت ترتيب کړم چي هغه په دريو مهمو موضوعاتو مشتمله وي اول دماشومانو لپاره شرعي نومونه دوهم دوالدينو او مولودينو حقوق او دريم د دماشومانو يا عام طور شرعي علاج کول په همدي بناء په اتلسو ورځو کي وتوانيدلم چي دمختلفو کتابونو معلومات را يوځای کړم او او يوه جامع او عام الفهمه رساله دشرعي اسنادو سره ټولني ته وړاندي کړم دا رساله ما د [ دوه زره دوه ويشتم کال په ديسمبر لسمه نيته شروع کړه او د ديسمبر اته ويشتمه مکمله شوه ] ددا رساله اول خپلو والدينو بيا استاذانو قربانو او بيا ټول امت مسلمه خصوصا ټولو دسپين کاروان لارويانو مجاهدينو شاهدانو غازيانو دهغوی په رأس کي زما شهيد استاذمناظر اسلام شيخ شهيد رحيم الله حقاني ته بيا دامارت اسلامي افغانستان بنياد ګذار ملا محمد عمر مجاهد او بيا شهيد منصور تقبله الله جلال الدين حقاني او اسامه بن لادن عبدالله عزام او نورو دجهاد دلاري سپيڅليو

**شهیدانو ته دالی وي بیا بلخصوص امیر المؤمنین الشیخ هبة الله اخونزاده حفظه الله ته دالی کوم الله ج دیی فیوضات دائم ولري صدق الله العلي العظيم**

**اخوكم في الله: العبدالاحقر عبيدالله عبيدالحنفي گلشاخيل**

دكتاب اوله برخه : دماشومانو متعلق څو شرعي حكمونه او مسائل

## [ حقوق الوالدين ]

داسلام مقدس دين ټولو مسلمانانو ته په توحيد امر كوي خو دتوحيد نه لاندي په دوهمه مرتبه د والدينو سره دبر او نيكي امر كوي الله ج فرمايي[ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا سورة البقرة درى اتيايمه ايت ] الله ج امر كوي چي دالله ج نه سوى به دبل چا عبادت نه كوى او دخپلو والدينو سره به احسان كوى دا مضمون په ډيرو ايتونو كي په مختلفو طريقو سره ذكر شوى دى [ أن اشكر لي ولوالديك إلي المصير لقمان : 14 ] دي ايت كي ذكر شوي دي چي دالله ج او والدينو شكريه به اداء كوي وقال تعالى : ( وقضى ربك ألا تعبدوا إلا إياه وبالوالدين إحسانا ) الآية إلى أن قال : ( وآت ذا القربى حقه والمسكين وابن السبيل ) [ الإسراء : 23 - 26 ] دي ايت كريمه كي هم د والدينو سره داحسان خبره ذكر شوي ده

مقصد داچي دوالدينو سره نيكي كول داسلام له مهمو غوښتنو څخه دي.

احاديثو كي داهم راغلي دي چي دلمانځه نه وروسته دوهم قدم كي د مور او پلار سره دنيكي مرتبه ده او ان د والدينو سره دنيكي مرتبه د جهادكفايي څخه هم اولى ده [ وفي الصحيحين ، عن ابن مسعود ، قلت : يا رسول الله ، أي العمل أفضل ؟ قال : " الصلاة على وقتها " . قلت : ثم أي ؟ قال : " بر الوالدين " . قلت : ثم أي ؟ قال : " الجهاد في سبيل الله ] ابن مسعود رض فرمايي چي ما درسول الله ص نه پوښتنه وكړه چي بهتر كوم عمل دى نو ده راته وويل چي په خپل وخت لمونځ كول ما ورته وويل بيا هغه جواب راكړ چي دوالدينو سره نيكي كول او دريمه مرتبه كي يي جهاد وښوده

محترمو د والدينو سره دنيكي كولو يا بر الوالدين يوه مستقله موضوع ده علماء كرامو په دي باره كي لوى لوى تصنيفات كړي خو موږ چونكي موضوع د اولادونو روزنه پالنه او مختصر اداب دي ځكه نو كامل تحقيق نه كؤ صرف د علماء كرامو او اسلامي نصوصو نه څو استدلالات را وړو تر څو دخپلو بچيانو سره د والدينو مقام او مرتبه وپيژني

**[ دوالدینو سره احسان او نیکي کول داسلام تقاضی ده ]**

**[ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((رِضَا الرَّبِّ فِي رِضَا الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ سنن الترمذي كتاب الادب ] دعبدالله بن عمرو څخه یو رواست نقل شوی دی هغه فرمایی چي رسول الله ص وفرمایل چي د دالله ج رضاء د والدینو په رضا کي ده او دالله ج ناراضه توب د والدینو په ناراضي کي ده**

**فایده: دحدیث نه څو فواید را معلومیږی**

**یوه فایده داده چي الله ج خپله رضا او ناراضګي د والدینو تر رضا پوری وتړله دې نه دمور او پلار دحقوقو اهتمام ته اشاره ده یعني لکه څرنګه چي دالله ج دحقوقو اداء کول د اجر سبب دی او ناراضه کول یی د دنیا او اخیرت دبربادی سبب ګرځي نو داسي دمور او پلار دحقونو اهتمام هم باید هر سړی له ځانه سره ولري**

**دوهمه فایده: دا تري معلومیږي چي دمور او پلار رضاء کول الله ج ته درسیدو یواځینی لاره ده**

**دریمه فایده: دا تري معلومیږي چي دیو انسان سره دالله ج د ربط او پیستون او دالله ج د دوستی دروازه والدین دي یعني که یو کس غواړي چي دالله ج ولي او دوست شي الله ج ته قریب شي نو یواځینی لاره یی د والدینو رضاء او ددوی سره احسان کول دي**

**[ قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ((الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذَلِكَ الْبَابَ أَوِ احْفَظْهُ)). قَالَ: وَقَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ إِنَّ أُمِّي وَرُبَّمَا قَالَ أَبِي. وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.سنن الترمذي كتاب البر ] دې حدیث کي ابو درداء رض فرمایی چي ما درسول الله ص نه واوریدل چي فرمایل یی والد [ اطلاق یی په والدینو کیږی ] یعنی پلار د جنت منځنی دروازه ده که غواړي چي دا دروازه درته حاصله شي نو خیال یی وساته که دجنت ددي دروازي نه محرومیدل غواړي نو ضایع یی کړه**

**ددي حدیث شریف نه یو څو فایدې رامعلومیږي**

**اوله فایده: داده چي والدینو سره احسان دجنت ته دتلو ذریعه ده**

دوهمه فایده: داده چي دوالدینو په رضا کي دالله ج رضا ده ځکه الله ج هغه چاته جنت ورکوي چي دهغه اعمال الله ج ته مقبول وي

دریمه فایده: داده چي څوک والدینو ته ضرر رسوي هغه خفه کوي نو دا ددي سبب ګرځي چي داکس الله ج دجنت نه محروم کړي العیاذبالله

**[ هغه عمل چي د والدینو زړه ته درد پري رسیږي حرام دی ]**

دوالدینو په حضور کي یا دهغوی متعلق یو داسي فعل یا عمل کول چي هغه دوالدینو د ناراضي سبب ګرځي یا دوالدینو زړه ته ضربه پري رسیږي حرام دیو

الله ج فرمایی[سُوۡرَةُ بنیٓ اسرآئیل/الإسرَاء : 23 [ وَقَضٰى رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِالۡوٰلِدَيۡنِ إِحۡسٰنًا ۚ إِمَّا يَبۡلُغَنَّ عِندَكَ الۡكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوۡ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنۡهَرۡهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوۡلًا كَرِيمًا ]

او ستا رب پریکړه کړېده چي: تاسي د الله پرته بل د هیچا عبادت مه وکړئ. له مور او پلار سره ښه چار چلند وکړئ. که ستا سره له هغو څخه یو یا دواړه زړښت ته ورسیږي، نو هغو ته اُف قدري مه وایه. مه هغو ته په تور بریښ ځواب ورکوه، بلکي له هغو سره په درناوي خبري کوه

الله ج په دی مبارک ایت کریمه کي صراحتا امر کړی دی چي فقط به زما عبادت کیږي او دوالدینو سره به احسان کیږي او که چیري مور او پلار کي یو څوک بوډاتوب ته ورسیږي نو هغوی ته دأُف کلمه مه استعمالوی مقصد یی دادی چي کله دکړم تکلیف سره مخامخ شی یا مریضي درته پیښه شي یاکوم بل درد درته ورسیږي نو داسي الفاظ مه استعمالوی چي هغي سره والدینو زړونه دردمند شي سر بیره پردي دهغوی رټنه او تهدید خو بیخي مه کوی او دمور او پلار سره په نرمي خبرې کوی ښي خبري ورته کوی دپورته ایت کریمه نه ډیر فوائد رامعلومیږي

اوله فایده: تر ټولو بنیادي امر دالله ج وحدانیت دی دهغه سره شریک نیول یا دطاغوط عبادت کول په الله ج باندي شرک کول دي

دوهمه فائده: قران کریم کي الله ج د خپلو حقوقو یا حقوق الله نه وروسته متصل په حقوق العباد کي دوالدینو حقونه مقدم کړل دي نه د والدینو مقام او دهغوی مرتبه معلومیږي همدارنګه

دیته اشاره ده چې حقوق الله باندي حقوق العباد عطف شوي دی او دمعطوف او معطوف علیه حکم یو وي نو دالله ج دحقوقو پشان به دوالدینو حقوقو پاملرنه هم کیږي

دریمه فایده: والدینو سره دښه سلوک لپاره داحسان کلمه استعمال شوي ده داحسان کلمه عامه ده یعني هر هغه عمل باید د والدینو متعلق سره ته ورسیږي چې دهغه دخوشحالی سبب ګرځي هغه که احسان فعلي یا قولي وي یعني دمور او پلار سره باید داسي خبري وشي چې دهغه زړه ته ضرر ونه رسیږي او داسي اعمال هم باید ونشي چې مور او پلار پري ناراضه کیږي

څلورمه فایده: مور او پلار ته د أُفْ کلمه مه وایی ددي ایت دا مقصد ندی چې صرف اف اف یا وای وای چې دغم او درد په وخت کي عموما په خوله جاري کیږي باید ونه ویل شي بلکي دلته دفع داذی ته اشاره شویده چې مور او پلار ته به اذی او ضرر نه رسیږي او داف کلمه یی د ادنی ضرر مرتبه ذکر کړیده یعني والدینو په مخ کي دغم درد یا مریضی داسي اظهار هم مه کوه چی هغه پري خفه شي سبحان الله بچی چې خپله مریض وي باید دمور او پلار په مخ کي دخپل غم اظهار ونه کړي ځکه والدینو ته ضرر رسیږي نو ددي نه دا معلومیږي چې مور او پلار ته خو ضرر رسول یادرد رسول لا ډیره لویه خبره ده الله ج دمورږ او تاسو ترې وساتي

پنځمه فایده: په ایت کریمه کي ترقي د ادنی نه اعلی ته شوي ده اول یی وویل چې احسان ور سره کوی بیایی وفرمایل چې کم ضرر مه ورته رسوی بیا الله ج وفرمایل چې مور او پلار رټنه مه کوی هغوی ته رد بد دهغوی سپکول مه کوی دا مطلق حرام دي همدارنګه والدینو ته پریکنده جواب ورکول هم حرام دي

تفسیر قرطبي کي دهمدي ایت په تفسیر کي امام قرطبي لیکلي [ من البر بهما والإحسان إليهما ألا يتعرض لسبهما ولا يعقهما ; فإن ذلك من الكبائر بلا خلاف ] یعني ایت کریمه کي دالله ج سره دنیکي امر شوی دی او هغوی ته دکنځلو نه منع شوي ده او دهغوی دنافرمانی نه هم منع شوي ده ځکه د والدینو نافرماني او عاق کول دګناه کبیره څخه ده

[ هغه خلک هلاک دي چې والدین یی ژوندي خو جنت ته لاړ نشي ]

دپورته ایت کریمه دتشریح مطابق هغه خلک چې والدین یی ژوندي وي دهغوی په ژوند کي زیا هم یو کس ته جنت حاصل نشي یعني والدین یی ناراضه کړي وي نو داسي کسانو ته پیغمبر ص

خطاب کړی دی چي دا قسم خلک هلاک دي [ وقال البخاري في كتاب الوالدين : حدثنا مسدد حدثنا بشر بن المفضل حدثنا عبد الرحمن بن إسحاق عن أبي سعيد المقبري عن أبي هريرة عن النبي - صلى الله عليه وسلم - قال : رغم أنف رجل ذكرت عنده فلم يصل علي . رغم أنف رجل أدرك أبويه عند الكبر أو أحدهما فلم يدخلاه الجنة . ورغم أنف رجل دخل عليه رمضان ثم انسلخ قبل أن يغفر له صحيح البخاري كتاب البر ] ابوهريرة رض فرمايی چي رسول الله ص وفرمايل چي دهغه چا دپوزه په خاورو شي چي زما نوم ذکر شي او په ما درود او صلاة ونه وايی او هغه کسانو پوزه دهم په خاورو شي چي مور او پلار يی پوړاګان ؤ خو بيا هم مستحق دجنت ونه ګرځی يعني دهغوی دحقوقو ساتنه ونه کړي او هغه کسانو پوزه دهم په خاورو شي چي رمضان تير شي او مغفرت ورته ونشي

نو ددي حديث نه هم صراحتا هغه کسانو ته چي والدين يی ژوندي وي بيا په حالت د بوډاتوب کي وي خو بيا هم دوی يی خيال ونه ساتي او مور او پلار يی ناراضه تري وفات شو نو دا کسان تباه او هلاک دي

يو عالم څه عجيبه وايی سبحان الله [ قال مجاهد : معناه إذا رأيت منهما في حال الشيخ الغائط والبول الذي رأياه منك في الصغر فلا تقذرهما وتقول أف تفسير قرطبي سورة الاسراء درويشتم ايت ] امام مجاهد رح فرمايی چي کله بچی خپل بوډا والدين ووينی دهغه بول او متيازي ووينی نو دهغوی ګندګيو دليدو له وجهی ورته اف يا بله کلمه استعمالول هم ندي جايز ځکه چي په حالت د ماشومتوب کي يی دبچی متيازي پاکي کړي دي نو دوی ته به اوس ته د اف يا بله کلمه نه استعمالوي ددي نه دا معلوميږي چي دمور پلار په جامو باندي زهير کيدل دهغی په صورت ياشکل يا زهير کيدل هم حرام دي يا والدينو ته دتحقير په سترګه کتل هم حرام دي

[ [سُوْرَةُ بنىَ اسرآئيل/الإسرَاء : 24] وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًاو ]

او په نرمۍ او رحم سره د هغو په وړاندي مات غاړي اوسه، او دا دُعا کوه: ”پروردګاره! پر دوی رحم وکړه، لکه څنګه چي دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کښي زه پاللی وم

په دي ايت كريمه كي هم الله ج امر كوي چي دخپلو والدينو سره ښه په نرمي او عطوفت خبري وكړى او والدينو ته دا دعا كوى چي يا الله داسي پرورش او سانته يى وكړي لكه زما پرورش دې چي په ماشومتوب كي وكړو

دپورته ايت كريمه په تفسير كي امام قرطبي د ابن عباس رض په روايت سره دا حديث رانقل كړى دى[وقال ابن عباس قال النبي - صلى الله عليه وسلم - : من أمسى مرضيا لوالديه وأصبح أمسى وأصبح وله بابان مفتوحان من الجنة وإن واحدا فواحدا . ومن أمسى وأصبح مسخطا لوالديه أمسى وأصبح وله بابان مفتوحان إلى النار وإن واحدا فواحدا فقال رجل : يا رسول الله ، وإن ظلماه ؟ قال : وإن ظلماه وإن ظلماه وإن ظلماه تفسير قرطبي ] يعني رسول الله ص فرمايى چاچى سهار يا بيګاه كړو په داسي حال كي چي والدين يى راضي كړي ۇ نو دجنت دواړه دروازي ورته په همدي سهار يا بيګاه خلاصي وي او كه والدينو كي يى يو ۇ نو بيا يوه دروازه ورته حلاصه وي او كه والدينو يى ناراضه كړل نو په همدي سهار يا بيګاه ورته دجهنم دوه دروازي خلاصي وي او كه يو ۇ بيا يوه دروازه ورته خلاصه وي يو صحابي رسول الله ص ته وفرمايل چي يا رسول الله كه چيري والدينو ورسره ظلم كاوه نو ده ورته وفرمايل اګر كه ظام يى هم ور سره كاوه

ددي حديث نه صراحتا دا معلومه شوه چي كوم كس په همدي سهار يا بيګاه چي والدين يى راضي كړي كه مرګ ورته راغى نو دا كس به جنتي وي او كه په همدي سهار يا بيګاه يى ناراضه كړل او مرګ ورته راغى جهنمي به وي

**[ دعلماء كرامو تنبيهات ]**

علماء كرام فرمايى چي مور او پلار كه يوه خبره وكړي ته يى په زړه كي ښه نه وبولي دا هم حرام دي

داهم وايى چي والدينو ته سر خورول يعنى دهغوى عمل خوند نه دركول هم حرام دي خو كه چيري غير شرعي امر ۇ يا كفر ته دعوت ۇ هغه جدا مسئله ده هلته به بيا دهغوى اطاعت نه كيږي

داهم رامعلوميږي چي په مور او پلار باندي په يو مجلس كي شرميدل هم حرام دي دمور او پلار په خبرو باندي مجلس كي هم شرميدل يا خوند نه وركول هم حرام عمل دى

دوالدینو طرف ته دپښو اوږدول هم غیر شرعي امر او بي ادبي ده

بیا دمور او پلار وهل کنځل کول بد رد ویل په مجلس کي پري شرمیدل خو ډیره لویه ګناه ده راتلونکي کي یې ان شاء الله اداب ذکر کوم

[ مور او پلار ته ضرر ازار رسول او نافرماني کول ګناه کبیره ]

دمور او پلار د ادابو نه وروسته دا خبره ضروري ده چي که ادب یې نشي کولی ازار او نافرماني یې مه کوه دهغوی نافرماني په شرعي امورو مطابق سخترینه ګناه او حرامه ده

الله ج فرمایي [ فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا سورة بني اسراییل درویشتم ایت ] الله ج فرمایي چي والدینو ته به ادنی دضرر کلمه چي اوف دی نه رسوی او نه به یې رټنه کوی زجر ضرر رسول ټول په [ لا تنهر ] کي شامل دي ددي ایت کریمه مخکي لړ تفصیل وشو

والدینو ته د ضرر رسولو څخه یو څو دادي

اول: دیو کس والدینو ته به کنځل نکوي ځکه چي دتا دکنځلو په سبب سره بیا هغه کس ستا والدینو ته کنځلي کوي نو چي دبل کس والدینو ته کنځلي ناجایزي دي نو دخپلي مور او پلار ته خو کنځلي په طریقه اولی سره ندي جایز.

[ ففي صحيح مسلم عن عبد الله بن عمرو أن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - قال : إن من الكبائر شتم الرجل والديه قالوا : يا رسول الله ، وهل يشتم الرجل والديه ؟ قال نعم . يسب الرجل أبا الرجل فيسب أباه ويسب أمه فيسب أمه ] یعني رسول الله ص فرمایي چي دګناه کبیره څخه داهم ده چي دیو کس والدینو ته کنځل وشي صحابه کرامو پوښتنه وکړه یا رسول الله یو کس څنګه خپلو والدینو ته کنزلي کوي یعني دا خبره یې تعجب وګڼله چي دا خو ممکن نده رسول الله ص ورته وفرمایل چي هو یوکس والدینو ته کنځلي کوي هغه داسي چي بل کس والدینو ته کنځل وکړي مقابل کس بیا دده والدینو ته کنځل وکړي

دوالدینو نافرماني قطعا حرامه ده ترڅو چي په غیر شرعي امر یې مامور نه وي ګرځولی [ عَنِ الْمُغِيرَةِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ صحيح البخاري كتاب البر ] پیغمبر ص فرمایي چي الله ج دوالدینو نافرماني حرامه کړیده ده سبحان الله

بل حديث كي يې د شرک نه لاندي درجه كي تر ټولو لويه ګناه اول دوالدينو نافرماني بللي ده [ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ)). قُلْنَا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: ((الإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ صحيح البخاري كتاب الادب باب عقوق الوالدين ] دې حديث كي رسول الله ص اكبر الكبائر يعني دلويو څخه لوی ګناهونه اول شرک بيا دوالدينو نافرماني ده

**[ دوالدينو حقوق دشريعت له نظره ]**

اشرف علي تهانوي رح د والدينو يو څو حقونه مختصرا ذكر كړي دی

اول: والدينو ته تكليف نه رسول اګر كه هغوی در سره زياتی وكړي

دوهم: په ژبه هغه ته ضرر نه رسول كنځل نكول بد دعا نكول او رټنه يی نكول

دريم په عمل كي د والدينو مخالفت نكول بلكي تعظيم يی كول

څلورم: په جائزو كارونو كي خبره منل

پنځم: كه كافران ؤ په دنيا وي امورو كي يی لاس نيونه كول

شپږم: دبخشني دعا ورته كول

اووم: د نفل عباداتو او خيراتونو ثوابونه ور بښل

اتم: دوالدينو د دوستانو سره ښه سلوک كول دهغوی خدمت كول

نهم: دهغوی قرضه اداء كول

لسم: دهغوی وصيت جاري كول

يولسم: ددي سربيره علماء كرامو دا هم ليكلي دي چي په مجلس كي به اعلی ځای د والدينو وي

دولسم: دوالدينو خلاف اواز نه پورته كول بلكي په نرمي ور سره خبري كول

ديارلسم: د الدينو مخامخ دپښو نه اوږدول

څوارلسم: دوالدينو دخبرو نه ردول

پنځلسم: دوالدينو سره که چيري په لاره روان وي نو دهغي مخ ته به نه ځي بايد وروسته لاړ شي او که يو ځاى ور سره ځي بيا به يې ښي طرف ته ځي

شپاړلسم: که دوالدينو ضرورت ۋ نو نفلي عبادت به ورته پريښودل کيږي او حاجت به يې پوره کيږي

اوولسم: که والدين ژوندي نه ۋ دهغوی خپلوانو سره به تعلق ساتل کيږي

اتلسم: والدينو ته تحفي راوړل

نولسم: والدينو په وړاندي تواضع او عاحزي کول

شلم دمور او پلار نه مننه کول احسان يې منل او قدر يې کول

يويشتم: دمور او پلار خبره اخيستل

دوه ويشتم؛: دوالدينو سره په کارونو کي مشوري کول

درويشتم: دمور او پلار تندي ته په محبت کتل بهترين عبادت دى

څلورويشتم: دمور او پلار نفقه او پالنه په غاړه اخيستل

پنځه ويشتم: دوالدينو علاج کول

ددي سربيره نور هر هغه امور چي تر والدينو پوري متعلق وي لحاظ کول هم دوالدينو د ادابو څخه دي چي پورته مذکوره يې عام اداب دي

د کوثر اوبو په نامه سره کتاب کي يو اثر رانقل شوى دى[ حضرت ابن عباس رضى الله عنه وايى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي تبه دجهنم دګرمۍ اثردی نوتاسی ئي دزمزم په اوبوسره تسکين کی [ رواه احمد و شيبه ]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي داپنځه شيان په عبادت کی شامل دی:

۱: وقرآن شريف ته کتل ۲: وکعبې شريفې ته کتل. ۳: دموراوپلاروڅهرې ته کتل

**۴: وزمزم ته كتل ، چې داګناه رڑوي۵: دعالم دين ومخ ته كتل] يعني دوالدينو مخ ته كتل عبادت دى**

**[ اولاد او د هغه روزنه او كفالت ][سُوْرَةُ الشّورىٰ : 49]لِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ الذُّكُور اوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنٰثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَآءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُۥ عَلِيمٌ قَدِيرٌ]**

**الله د اسمانونو او ځمكي د باچاهۍ مالك دى، څه چي غواړي پيدا كوي يې، چا ته چي يې خوښه شي لوني وركوي. چا ته چي يې خوښه شي زامن وركويٌ**

**او چا ته چي يې خوښه شي زامن او لوني دواړه وركوي او چا ته يې چي خوښه شي شنډوي يې. هغه ته هر څه معلوم دي او په هر څه قادر دى.**

**پورته دوه ايتونو مباركه كي الله ج فرمايې چي والدينو ته د اولاد وركول زما په تصرف كي دي او دټولي دنيا متصرف زه يم چاته چي زما خوښه شي ښځينه اولاد وركوم چاته نارينه چاته نارينه او ښځينه دواړه او چاته يې بيخې نه وركوم او بيا فرمايې چي زه په هرشي ښه پوهيږي او په هرشي قادر هم يم**

**دپورته ايت كريمه نه ډيري فايدي را معلوميږي**

**اوله فائده: د اولادونو وركړه دالله ج خپله خوښه ده**

**دوهمه فايده: يو چاته فقط ښځينه اولاد يو چاته نارينه يو چاته دواړه او يو كس شنډ ګرځولو كي دالله ج خپل حكمت دى**

**دريمه فايده: : دعليم له كلمي معلوميږى چي الله ج چي چاته اولاد نه وركوي يا صرف ښځينه وركوي نو ممكن كه اولاد يې وركړى واى هغه بي لاري يا العياذبالله كافر واى يا د دين او شريعت خلاف واى يا ممكن خپلو والدينو ته د سر درد واى**

**څلرومه فايده: دقدير له كلمي بيا دا هم معلوميږي چي الله ج په قدرت كي هرڅه پوره دي كولاى يې شي ډير داسي اولادونه شته چي كله لوى شول نو خپلي ميندي او پلارونه يې ووژل او ډيرو خپلي ميندي او پلارونه بي سرپرسته پريښودل**

دپورته ایت کریمه په تفسیر کي امام قرطبي یو حدیث رانقل کړی دی چي ډیر عجیب دی او دجینټیک علم ورنه ثابتیږی اوسني ساینس پوهان دجنتیکي علم کشف کونکي مندل او نور بولي خو رسول الله ص پنځلس سوه کاله مخکي ددي قاعدي وضاحت کړی دی

[ قال النبي - صلى الله عليه وسلم - : إذا سبق ماء الرجل ماء المرأة ، أذكرا وإذا سبق ماء المرأة ماء الرجل آنثا . وكذلك في الصحيح أيضا : إذا علا ماء الرجل ماء المرأة أشبه الولد أعمامه وإذا علا ماء المرأة ماء الرجل أشبه الولد أخواله تفسير قرطبي تحت سورة الشورى پنځوسم ] پیغمبر ص فرمایی که دنارینه اوبه یا منی دښځینه په مني غالبي شي نارینه اولاد منځته راځي او که دښځینه مني پري غالبي شي بیا ښځینه اولاد پیداکیږي بل حدیث یی دادی چي کله دنارینه مني دښځي په مني غالبي شي نو دماشوم ارثي خواص ترونو ته کیږي او که دښځي مني غالبي شي نو د ماشوم ارثي خواص رنګ صفات د ماماګانو طرف ته کیږي

په بیولوژي کي دنارینه منی ایکس او وای او دښځینه مني ډبل ایکس نوم ورکړی چي کله ایکس د وای سره یوځای شي علوق وکړي نارینه اولاد پیدا کیږي او که دښځي ایکس سپرم د نارینه ایکس سپرم سرا یوځای شي علوق وکړي نو ښځینه اولادونه پیدا کیږي

<u>[ اسلام مقدس دین کي نیک اولادونه والدینو ته نفع رسولی شي ]</u>

داسلام مقدس دین سالمه قاعده داده چي هر بچی په فترة اسلامي کي پیدا کیږي

[ عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: ((كل مولود يولد على الفطرة، فأبواه يهودانه أو ينصرانه أو يمجسانه.صحيح البخاري كتاب الجنايز ] رسول الله ص دي حدیث کي فرمایی چي ماشوم په فترت اسلامي کي پیداکیږي خو دهغه مور او پلار یی یا یهودي یا نصراني یا مجوسي کړي

اسلام مقدس دین کي نیک اولادونه خپلو والدینو ته صدقه جاریه ده او په سبب سره یی الله ج دهغه له والدینو سره دمساهلي معاملة کوي خو که مطلق بچی د یو کس لپاره صدقه جاریه نده او نه هم والدینو ته نفع رسولی شي الله ج فرمایی

[سُوْرَةُ التّغَابُن : 14] يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ مِنْ أَزْوَٰجِكُمْ وَأَوْلَٰدِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَٱحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِن تَعْفُوا۟ وَتَصْفَحُوا۟ وَتَغْفِرُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ]

**اې مؤمنانو! ستاسي له ميرمنو او ستاسي له اولادونو څخه ځيني ستاسي دښمنان دي، له هغو څخه ځان اداره کړئ. او که تاسي د بخښني او تېرېدني څخه کار واخلئ او ښنه وکړئ، نو الله ډېر ښه بښونکی او رحم کوونکی دی**

**په دي ايت مبارکه کي بچيان او ښځي مستثنی شوي دي يعني بعضي ښځي او اولادونه دخپلو خاوندانو او بچيان د والدينو دښمنان وي لکه د لوط ع ښځه او د نوح ع بچی.**

**ددي ايت کريمه د نزول نه مخکی به خلکو په بچيان. باندي فخر کولو لکه عيينه بن حصن الله ج ايتونه رانازل کړل چي په اولادونو به فخر نه کوی ځکه بعضي اولادونه دخپلو پلارونو دښمنان وي**

**نيک اولادونه هميشه والدين په دعا ګانو کي ياد ساتي او والدينو ته دهغه د دعا اجر**

**او ثواب رسيږي الله ج دابراهيم ع دعاته اشاره کوي [ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ سورة ابراهيم ] په دي ايت مبارکه کي د والدينو لپاره دعا ذکر شوي ده**

**پيغمبر ص دنيک اولاد باره کي فرمايي[ «1432» حدثنا علي بن حجر أخبرنا إسماعيل بن جعفر عن العلاء بن عبد الرحمن عن أبيه عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ((إذا مات الإنسان انقطع عمله إلا من ثلاث صدقة جارية وعلم ينتفع به وولد صالح يدعو له)).**

**قال أبو عيسى: هذا حديث حسن صحيح.نن الترمذي ]**

**دي حديث کي رسول الله ص فرمايي چي کله يو انسان مړ شي نو ټول اعمال يې قطع کيږي ليکن درې شيان دده سره پاتي کيږي يو صدقة جارية بل يې علم نافع او بل يې نيک اولاد دی چي خپل پلار ته دعا کوي**

**<u>[ اولادونو ته ددنيا زينت او فتنه ويل شويده ]</u>**

**الله ج قران کريم کي اولادونو ته ته زينة الحياة يا د ژوند زينت ويلی دی ولي ورته زينة الحياة ويلی شوي دی مفسرينو ددي ايت کريمه [ سُوْرَةُ الكهف : 46]**

**الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ۖ وَالْبَٰقِيَٰتُ الصَّٰلِحَٰتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا ]**

دغه مال او دغه اولاد يوازې د دنيوي ژوندانه يوه موقتي ښكلا ده، په اصل كښې خو پايښت لرونكې نېكۍ ستا د رب په وړاندې د نتيجې په لحاظ سره ډېرې غوره دي او په هم هغو پورې ښې هيلې تړل كېداى شي.

ددې دايت مباركه نه معلومېږي چې مال او اولادونو ته د دنيا زينت ويل شوى دى

دپورته ايت مباركه په تفسير كې امام قرطبي ليكلي دى [ وإنما كان المال والبنون زينة الحياة الدنيا لأن في المال جمالا ونفعا ، وفي البنين قوة ودفعا ، فصارا زينة الحياة الدنيا ، ] يعني مال او اولاد د دنيا زينت دى وجه دا ده چې په مال سره جمال او نفع حاصلېږي او په اولادونو سره قوت او دځان نه دشر دفع كول حاصلېږى نو ځكه ددنيا زينت دى

خو په اولادونو تفاخر كول په مال باندې تفاخر كول غير مناسب دي انسان بايد د اولادونو او مال دمشغولتيا له وجې له دينه لرې نشي او ددين سره يې د تعلق كميدو يا ختميدو سبب نشي ځكه الله ج اولادونو او ښځو ته حب الشهوات ويلى دى [ زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالْبَنِينَ ] يعني الله ج خلكو ته ښايسته كړې دي د ښځو محبت او د اولادونو مالونو محبت ځكه دا درى واړه كه چيرې انسان ور سره سم ونه چليږي د دنيا او اخيرت دنقصان ذريعه ګرځي

الله ج مال او اولادونو ته فتنه ازمايش او امتحان ويلى دى

[ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ سورة التغابن ]

پورته ايت كريمه كې الله ج فرمايي چې مال او لاد فتنه ده د فتنې ډېرې معناګانې دي [ اختبار وابتلاء من الله لخلقه . ليعلم من يطيعه ممن يعصيه .ابن كثير ] يعني مال او اولاد يوه ابتلاء ده امتحان دى چې تر څو الله ج انسانان معلوم كړي چې په سبب سره يې څوك دالله ج اطاعت كوي كه الله ج هيره وي يا يې معصيت كوي

يا ځكه اولاد فتنه ده چې ډير ځله داسې وي چې دخپلو اولادونو ته د رزق دګټلو لپاره انسان كله ناكله په حرامو هم صرفه نه كوي د اولادونو لپاره د رزق ګټلو لپاره قسم قسم تكاليف په ځان برداشت كوي نو په دې وجه هم فتنة او امتحان دى

[ وقال الإمام أحمد : حدثنا زيد بن الحباب ، حدثني حسين بن واقد ، حدثني عبد الله بن بريدة ، سمعت أبي بريدة يقول : كان رسول الله - صلى الله عليه وسلم - يخطب ، فجاء الحسن والحسين رضي الله عنهما ، عليهما قميصان أحمران يمشيان ويعثران ، فنزل رسول الله - صلى الله عليه وسلم - من المنبر فحملهما فوضعهما بين يديه ، ثم قال : " صدق الله ورسوله ، إنما أموالكم وأولادكم فتنة ، نظرت إلى هذين الصبيين يمشيان ويعثران فلم أصبر حتى قطعت حديثي ورفعتهما " تفسير ابن كثير سورة التغابن ]

امام احمد رح يو حديث رانقل کړی دی چي رسول الله ص په منبر باندي ناست ؤ حسن او حسين په لاره روان ؤ سرې جامي يی اغوستي وې رسول الله ص دمنبر نه راکښته شو او دواړه يی واخيستل او مخامخ يی له ځانه سره کينول بيا يی وفرمايل چي رښتيا ويلي الله او دهغه رسول چي مال او اولاد فتنة ده ما دې ماشومانو ته وکتل نو زړه کي صبر ونه کړ خبري مي ودرولي او دا مي راپورته کړل

[ عن أبي سعيد قال : قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : " الولد ثمرة القلوب ، ابن كثير ] ابوسعيدالخدري رض يو حديث رانقل کړی دی چي رسول الله ص وفرمايل چي بچی يا اولاد دزړه ميوه ده انسان ته ډيره محبوبه ده نو ځکه الله ج هم ورته امتحان او ازمايښت ويلی دی

<u>[ اولادونو حقونه او د پرورش طريقه پر مور او پلار باندي ]</u>

اشرف علي تهانوي رح د ماشوم څلويښت دماشومانو د پرورش طريقي ذکر کړيدي چي په لاندي ډول دي

اول: بچي ته يه ديندراه ښځه تی او شيدې ورکوي

دوهم: اکثره خلک بچی ويروي نو ويره ول يی ندې جايز ځکه د ماشوم زړه کمزوری کوي

دريم: دشيدو ورکولو لپاره ورته وخت ټاکل چي صحت يی ښه شي

څلورم: بچی صفا ساتل ځکه دبچي دتندروسته کيدو سبب گرځي

پنځم: ډير يی نه سينګارول

شپږم: دماشوم ويښتان له حده زيات نه اوږدول

اووم: که جینی وي ماشومتوب کي یی دکالو اغوستلو ستر سره بلد کول

اتم: ماشومانو کي له ورکوالي څخه د سخاوت ماده پیدا کول

نهم: که ماشوم نارینه وي نو دکوچینوالي څخه یی د سپینو جامو سره مینه پیدا کول

لسم: دخرابو عادتونو څخه یی منع کول

یولسم: دبي ځایه ویرونو او محفلونو څخه یی منع کول

دولسم: بچیان په ماشومتوب کي له غوصي دروغو نه بي ځایه ټوکو نه دوکي نه منع کول

دیارلسم: که کوم تخریب جوړ کړي نو تعلیمي سزا ورکول

څوارلسم: سهار یی وختي له خوبه پورته کول

پنځلسم: چي داوه کلنو شي لمونځ سره یی عادت کول

شپاړلسم: چي دعلم د زده کولو صالح شي اول دقران ور ښودل

اوولسم: استاد به یی دینداره او نیک وي بداخلاقه استاد به نه وي

اتلسم: دنیکو خلکو قیصي ورته کول داصحابو کرامو سیرت قیصي ورته بیانول

نولسم: عشق محبت غزلو او سندرو او نورو فاحشو کتابونو دمطالعي نه یی ساتل

شلم: ددین ضروري امورو کتابونه ورته ښودل

یویشتم: د تفریح لپاره یی په خالي وخت کي مباحو لوبو ته پریښودل

دوه ویشتم: دغیر شرعی شیانو داخیستلو لپاره به پیسي نه ورکول کیږي

درویشتم: ابتدأ یی له لوبو سره نه بلدول

څلوریشتم: ابتدأ اولادونو ته داسي هنر ښودل چي اینده کي تري استفاده کولی شي

پنځه ویشتم: جینکو ته صرف دومره تعلیم ښودل چي دکور حساب کتاب پري کولی شي

شپږ ویشتم: کله چي ماشوم ښه کار وکړي نو دهغه ستایل او تحفه ورکول

اوویشتم: خوراک طريقه د میلمه پالني اداب د مسجد اداب دکور کورنی اداب ور ښودل

اشرف علي تهانوي رح دا اداب او دماشومانو دساتني طريقي په [ جنتي كالي دوه سوه دولسمه ص ] كي مفصل ذكر كړيدي

## [ پر والدينو د اولاد لاد حقونه ]

لكه څرنګه چي والدين په بچيانو حقونه لري داسي بچيان هم په والدينو حقونه لري چي د دواړو خواو نه د حقونو په رعايت كي د ټولني نظم رامنځته كيږي

داولادونو حقونه په والدينو باندي چي مهم دي او احاديثو كي يی ذكر شوی دی په لاندي ډول دي

داولادونو حقونه دوه قسمه دي يو قسم يی هغه دي چي دجنين پوري تعلق لري دوهم قسم حقونه يی هغه دي چي دپيدا يښت نه وروسته دماشوم سره تعلق لري د جنين حقوقونه يي په لاندې ډول دي

## [ دجنين په حالت كي د ماشوم حقونه ]

اول: بچي ته د ژوند حق دی بچی ساتل او دهغوی ساتنه په والدينو باندي د لويو حقونو څخه ده ځكه چي داسلام مقدس دين نه مخكي به خلكو ماشومان او لوني ژوندی ښخولي داسلام مقدس دين ددي عمل نه خلك منع كړل [ بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ ] يعنی په ورځ دقيامت كي به دماشومي له قاتل نه پوښتنه وشي چي په كومه ګناه د قتل كړه

ددي سربيره بعضو خلكو به دجاهليت پخ زمانه كي خپل اولادونه په دي خاطر قتلول چي بيا به رزق څوک ورته برابروي الله ج ددي كار نه هم مسلمانان منع كړل

[ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ ۖ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا ] الله ج فرمايی چي تاسو خپل اولادونه د قحطی له وجهي مه قتلوی چي بيا به دوی ته رزق څوک وركوي ددوی رزق پرموږ باندي دی او ددوی قتل ډير عظيم جرم دی

دوهم: ښه والدين دوالدينو له حقوقو څخه داهم ده چي كله يو كس واده كوي نو داسي ښځه انتخاب كړي چي د اولادونو روزنه كولای شي تقوا داره وي ايمانداره وي ځكه د نيكي كورنی انتخاب دكورنی په جوړښت كي مهم رول لري پيغمبر ص فرمايی [ تخيروا لنطفكم فانكحوا

الاكفاء وانكحوا اليهم ابن ماجه دوهم ج پنځه څلويښتمه ص ] پيغمبر ص فرمايی دخپلو راتلونكي نسل لپاره بچيانو لپاره نيكي ښځي غوره كړی او سيالي غوره كړی تر څو نيک اولادونه وزيږوي يعني نيكه مور او نيک پلار د كورنی په تربيت كي مهم رول لري

دريم: حق دجنين دادی چي بچی به خپلي مور پلار او كورنی ته منسوبيږي يعني ماشوم نسب به معلوم وي او همدغو كسانو ته به يی نسبت كيږی

څلروم: حق يی دادی چي بچی كه دمور په خيټه كي هم وي بيا هم دميراث مستحق كيدلی شي خو كه ژوندی وي نور احكام يی په علم الميراث كي ذكر دي

پنځم: حق يی دادی چي كه چيري جنين ته مال وصيت شي نو دا وصيت شوی مال ورته ساتل كيږي او مستحق يی گرځي

[ دماشوم د پيدا كيدو وروسته حقونه ]

كله چي ماشوم پيدا شي نو د پيدا كيدو نه وروسته په والدينو يو څو حقونه لري

اول حق: دماشوم په غوږ كي اذان كول

دماشومانو له حقونو څخه يو حق دادی چي دماشوم په غوږ كي اذان وشي علماء كرامو د اذان كولو طريقي ذكر كړي دي

ابن القيم په زاد المعاد كي يو حديث ذكر كړی دی ابي داود په حوالي سره [ ذكر أبو داود «عن أبي رافع قال: (رأيت النبي صلى الله عليه وسلم أذن في أذن الحسن بن علي حين ولدته أمه فاطمة رضي الله عنها بالصلاة زاد المعاد - 2628/779 ] يعني دي حديث كي راځي چي كله د بي بي فاطمي رض بچی حسن رض پيداشو نو رسول الله ص يی په غوږ كي اذان وكړو لكه دلمانځه اذان

صاحب داسدالغابة ليكلي دي چي كله حسين رض هم پيداشو رسول الله ص يی په غوږ كي اذان وكړو [ ولما ولد أذن النبي صلى الله عليه وسلم في أذنه، وهو سيد شباب أهل الجنة أسد الغابة - 8070/1239 ]

معجم الكبير للطبرانى كي ذكر شوي چي رسول الله ص د حسن او حسين دواړو په غوږونو كي اذان كړی دی او امر يی وكړو چي دماشومانو په غوږونو كي اذان كوی [ عن أبي رافع «أن النبي صلى الله عليه وسلم أذن في أذن الحسن والحسين رضي الله عنهما حين ولدا، وأمر به ]

بل حديث كي عبيدالله هم رانقل كړی دی همدا حديث [ عن عبيد الله بن أبي رافع، عن أبيه، قال: «رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم أذن في أذن الحسن بن علي بالصلاة حين ولدته فاطمة رضي الله عنهما ]

نو دپورته احاديثو نه صراحتا دماشوم په غوږ كي داذان كول ثابت شول

**[ دماشوم په غوږ كي د اذان كولو طريقه ]**

دماشوم په غوږ كي اذان كول سنت طريقه ده او ښه خبره داده چي يو عالم يا نيک بنده دهغه په غوږ كي اذان وكړي او داهم ښه خبره ده چي داذان لپاره اودس وشي اګر كه بغير له اودسه هم اذان كولی شي داذان طريقه يی داده چي ماشوم به راواخلي او د قبيلي يا قبلي په طرف به يی ونيسي اول به يی ښي غوږ كي اذان مكمل وكړي ځيني رواياتو كي راځي چي په ښي غوږ كي به يی د سهار اذان كيږي خو كه هر يو وشي كولای يی شي كله چي يی ښي غوږ كي اذان وشو متصل به يی په چپ غوږ كي اقامت ووايی او وروسته به دعا دبركت ورته وكړي دا يی داذان شرعي طريقه ده

احياء العلوم كي امام غزالي رح ليكلي دي چي دكوم ماشوم په غوږ كي اذان او اقامت وشي نو فايده يی داده چي دا ماشوم به دام الصبيان څخه محفوظ وي

بله وجه يی علماء كرامو دا ذكر كړيده چي دماشوم په غوږ كي به ځكه اذان كيږي چي ترڅو لمړی خبري اوريدل يی دتوحيد او دالله ج دعظمت او لويی بيانول وي

**[ دوهم دماشوم پيدا كيدو دشكراني لپاره عقيقه كول ]**

كله چي ماشوم پيدا شي نو دوهم حق يی په والدينو او كورنيو دادی چي دهغه لپاره عقيقه يا وينه توی كړي دعقيقي يا ويني تويول سنت طريقه ده بغضي علماء يی واجب بولي خو دا عقيقه به كوم شی وي

نو دي كي متعدد احاديث ذكر شوي دي بعضو احاديثو كي راځي چي كه ماشوم پيدا شو دوه پسونه به حلالوي غريبانو باندي به يې خيرات كوي او كه جينى وه يو پسه به حلاله وي بعضي احاديثو كي راځي چي جينى او ماشوم دواړه برابر دي بعضي علماء وايي چي مقصود دالله ج لپاره دنذر سرته رسول دي او دالله ج ددي نعمت شكريه اداء كړل دي وينه تويول مهم دي اګر كه يوه مرغى هم حلاله شي يعني د ويني تويول مهم دي خو اصل خبره داده چي ديوكس طاقت ته به كتل كيږي كه غني وي نو پسه به حلاله وي او كه بيخي فقير ؤ نو بيا دهغه لپاره دچرګ ذبح كول يا غوښه له بازاره راوړل او يا كه بيخي يې ددي وسع نه وه بيا دې الله ج ته دشكراني لمونځونه وكړي دعقيقي متعلق يو څو احاديث دادي

[ حدثنا سلمان بن عامر الضبي قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ((مع الغلام عقيقة، فأهريقوا عنه دما وأميطوا عنه الأذى صحيح البخاري كتاب العقيقة ] پيغمبر ص فرمايي چي كله ماشوم پيدشي نو يو پسه وينه توى كړى او په سبب ددي سره تري ضرر لرې كړى

[ عمرو بن شعيب يحدث عن أبيه، عن جده، قال: «سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن العقيقة فقال: (لا أحب العقوق» ) ، وكأنه كره الاسم ( «قالوا: يا رسول الله ينسك أحدنا عن ولده؟ فقال من أحب منكم أن ينسك عن ولده فليفعل عن الغلام شاتان، وعن الجارية شاة» زادالمعاد ] يو صحابي رسول الله ص ته وويل چي زه عقيقه وكړم نو رسول الله ص ورته وويل چي زه عقيقه نه خوښوم صحابي فرمايي چي لكه رسول الله ص د عقيقي نوم بد ګڼه نو بيا مي ورته وويل يا رسول الله ايا موږ دخپلو بچيانو دپيدا كيدو لپاره قرباني وكړو نو رسول الله ص وفرمايل چي كه څوک خوښوی چي خپلو بچيانو باندي قرباني وكړي نو دبچی نه د دوه پسونه او د جيني نه د يو پسه حلال كړي

همدارنګه دماشوم څخه ديو پسه حلالول هم كافي دي [ وقد صحح عبد الحق الإشبيلي من حديث ابن عباس وأنس أن النبي صلى الله عليه وسلم ( «عق عن الحسن بكبش، وعن الحسين بكبش زادالمعاد باب في هدية الرسول في العقيقة ] دي حديث نه په يوه پسه باندي اكتفاء كول ثابتيږي ځكه رسول الله ص دحسن او حسين نه يو يو پسه حلال كړى ؤ

[ پسه به په کومه ورځ کي حلال کېږي ]

کله چي ماشوم پيداشي نو په هغه باندي دپسه حلالولو وخت کي ښه خبره او په احاديثو کي منقوله خبره داده چي په اومه ورځ باندي پري پسه حلال شي

[ عن سلمان بن عامر رض رفعه قال الغلام مرتهن بعقيقته يماط عنه الاذى ويراق عنه الدم في اليوم السابع سنن الكبرى للبيهقي كتاب جمع ابواب العقيقة ] په دي مرفوع روايت کی راځي چي کله ماشوم پيداشي نو دهغه غاړه مرتهنه وي يعني هغه داسي وي لکه ګرو نو د ګرو نه دخلاصون طريقه داده چي پسه ذبحه شي او ضرر ورنه لري شي او پسه به په اوومه ورځ حلالېږي

[ عن عبدالله بن بريدة عن ابيه عن النبى ص عن النبى ص قال العقيقة تذبح لسبع والاربع عشرة ولاحدى وعشرين حواله مذكوره ] يعني پيغمبر ص فرمايلي چي عقيقه دماشوم په اومه څوارلسمه يا يويشتمه ورځ کيږي

زادالمعاد کي يو حديث رانقل شوى دى دهغه نه هم معلومېږي چي رسول الله ص فرمايى چي دماشوم عقيقه او نوم ايښودل په اومه ورځ وکړی [ تقدم قوله في حديث قتادة عن الحسن عن سمرة في العقيقة [ «تذبح يوم سابعه ويسمى» ]

که چيري دچا وسع نه وي نو بيا دچرګ حلالول هم کولی شي دا يو امر استحبابي او دشکراني امر دی دويني تويول ضروري دی لکه محمدبن ابراهيم رح به خلکو ته فرمايل چي تاسو په عقيقه کوی که په مرغی سره هم وي [ عن محمدبن ابراهيم قال يؤمر بالعقيقة ولو بعصفورٍ ]

[ چي کله بچی پيدا شي قابله ډاکټري ته تحفه يا شيريني ورکول]

په يو چا باندي چي کله زيری وشي او يو ښه خبر ور ورسول شي نو مقابل جانب لخوا شيريني يا زموږ او ستاسو په اصطلاح کي د زيرې ورکول جايز دي او په احاديثو کي هم ثابت دي

کعب بن مالک رض د تبوک له غزوي نه پاتي شوی ؤ څلويښت پنځوس ورځی بعد يی الله ج توبه قبوله کړه نو يو کس د رسول الله ص له طرفه ورته راغی او زيری يی پري وکړ کعب بن مالک خپله جامه ويستله او په زيري کي يی ور کړه [ فلما جاءني الذي سمعت صوته يبشرني نزعت له ثوبي، فكسوته إياهما ببشراه، والله ما أملك غيرهما يومئذ، واستعرت ثوبين فلبستهما صحيح

البخاري كتاب المغازي باب حديث كعب بن مالک ] نو په دي حديث كي ديته اشاره شوي ده چي که چيری يوښه خبر چا در کړو نو هغه ته زيری ورکولی شي

همدارنګه رواياتو کي دا هم راځي چي کله ماشوم پيدا شي نو کومه قابله يا هغه ښځه چي دولادت په حالت کي له ښځي سره وي نو دعقيقي څخه به هغه ته هم حصه ورکول کيږي

زادالمعاد کي ابن القيم دوهم جلد کي دعقيقي په بحث کي يو حديث رانقل کړی دی چي داحاديثو کتابونو کي هم شته [ عن جعفر بن محمد، عن أبيه «أن النبي صلى الله عليه وسلم قال في العقيقة التي عقتها فاطمة عن الحسن والحسين رضي الله عنهما، [أن ابعثوا إلى بيت القابلة برجل، وكلوا وأطعموا، ولا تكسروا منها عظما ] يعنی رسول الله ص فاطمي رض ته وويل چي دحسن او حسين چي کومه عقيقه ده دهغي نه لږ برخه دقابلي ښځي کور ته هم وليږی او ددي عقيقي نه خوراک کولی شی او هډوکی يی نشي ماتولی

نو دي حديث کي دې خبرې ته اشاره شوی ده چي دعقيقي له غوښي يو څه برخه قابلي ته ورکول کيږي دا مامور به او سنت عمل دی

<u>[ دريم حق دماشوم ختنه کول ]</u>

که چيري ماشوم نارينه ؤ نو دهغي ختنه کول سنت دي امام ابوحينفه رح يی سنت مؤکد او بعضي علماء يی واجب بولي د ماشوم ختنه کول ماشوم له بيلابيلو ناروغيو ساتي او په ختنه کي ډيري طبي فايدې دي

اول: پاکوالی طهارت

دوهم: دشهوت تعديل

دريم: داوداسه بشپړ کيدل

څلورم: دجماع کوروالي وخت کي داوږد مهاله ناروغيو نه حفاظت

پنځم: دخپلي ښځي سره ديو ځای کيدو لپاره چمتو کيدل

شپږم: دلذت او خوند زاياتيدل

اووم: دميکروبونو دتوليدو مخنيوی

اتم: دبولو نه وروسته په پوستکی کي د ادرارو نه پاتي کيدل

نهم: ددي برسيره دا يو سنت او دانبياء کرامو فطري سنت دی

دختني کولو ثبوت او فضيلت په احاديثو کي زيات ذکر شوی دی

[ عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ((الفطرة خمس الختان، والاستحداد، ونتف الإبط، وقص الشارب، وتقليم الأظفار صحيح البخاري كتاب الاستيذان ] پيغمبر ص فرمايې چي فطرتي سنت پنځه دي ختنه کول، دنامه لاندي ويښتان لرې کړل، دتخرک لاندي ويښتان لرې کول، بريتونه ټيټول، او دنوکانو ټيټول

فطرت دا مطلب چي دا هغه سنت دي چي د آدم ع نه تر پيغمبر ص پوري د ټولو پيغمبرانو معمول وي

در المختار کي ليکلي دي چي ختنه کول دمسلمانانو علامه ده [ أن علامة المسلمين أربعة الختان والخضاب ولبس السواد وحلق العانة الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) - 4257/856 ] يعنی دمسلمان څلورم ظاهري علامي دي ختنه کول دږيري سره کول توري جامي اغوستل او نامه لاندي ويښتان لرې کول

د ماشوم دسنت کولو وخت کي علماء بيلابيل اقوال لري ابن عباس رض دا معمول ؤ چی ماشوم ترڅو لږ ادراک کولی شولو نو هغه به يی سنت کولو الميموني فرمايې چي امام احمد په اوومه ورځ دماشوم سنت ښه نه بلل بعضي علماء يی يو کال بعد دسنت کولو قائل دي خو اصل خبره داده چي دماشوم سنت کول هر وخت کولی شی حتی که چيري يو کس بوډا وي سنت شوی نه وي نو دهغه سنت کول هم ضروري دي ابراهيم ع د اتيا کلونو ؤ چي سنت يی کړلو احاديثو کي دهغه ختنه رانقل شوي ده

<u>( دنوي ماشوم اولنی خوراک خرما ورکول سنت دي )</u>

کله چي يو ماشوم پيداشي نو کله چي مور شيدي ورکوي دهغه نه مخکي سنت طريقه داده چي ماشوم يو عالم ته يا يو نيک کس ته يوړل شي يا په کور کې يو تقوی داره کس ته يوړل شي او

دهغه په خوله باندي ورته خرما نرمه شي او بيا يې د ماشوم په خوله كي وركړي دا ډول عمل د رسول الله ص يو سنت طريقه او دهغه معمول ؤ

صحيح البخاري كتاب العقيقة كي يو حديث يو حديث رانقل شوى دى [ عن أبي موسى رضي الله عنه قال ولد لي غلام، فأتيت به النبي صلى الله عليه وسلم فسماه إبراهيم، فحنكه بتمرة، ودعا له بالبركة ودفعه إلي، وكان أكبر ولد أبي موسى.] ابو موسى رض فرمايي چې زما يو بچى پيدا شو نو ما رسول الله ص ته راوړو رسول الله ص په هغه دابراهيم نوم كيښوده او په خوله كي يې خرما وژدوله بيايې دماشوم په خوله كي وركړه او بيايې ماشوم ته دبركت دعا وكړه او بيايې ماته راكړ او دا دابوموسى رض لوى ماشوم ؤ

[ حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصَبِيٍّ يُحَنِّكُهُ، فَبَالَ عَلَيْهِ، فَأَتْبَعَهُ الْمَاءَ. صحيح البخاري كتاب العقيقة ] عايشة رض فرمايي چي رسول الله ص ته يو چا ماشوم راوړ نو رسول الله ص دهغه خوله كي ژوول شوي خرما وركړه نو دي وخت كي يې په رسول الله ص كي ماشوم متيازي وكړي رسول الله ص اوله وغوښتلي او بيايې جامي پريمينځلى

همدارنګه كله چي عبدالله بن زبير رض پيدا شو نو رسول الله ص دهغه خوله كي ژوول شوي خرما وركړه نو دماشوم خوله كي خرما وركول سنت طريقه ده

## [ دماشوم اولني ويښتان له سپينو زرو سره تلل بيا صدقه كول ]

دماشومانو متعلق بله مسئله داده چي كله يو ماشوم پيداشي نو اولنى ځل دهغه ويښتان چي كله لرې كيږي نو هغه ويښتان د سرو يا سپينو زرو سره تلل بيايې قيمت په مسكينانو صدقه كول هم سنت طريقه ده خو د ماشوم ويښتان به كله لرې كيږى نو امام شافعي او امام مالك رح فرمايي چي دماشوم ويښتان به په اوومه ورځ لرې كيږي خو اوفقه خبره داده چي اوومه ورځ يې ويښتان لرې شي بل وخت يې لرې كول هم جايز دى خو خلاف الاولى دى

[ وروى الترمذي من حديث علي رضي الله عنه قال: «عق رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الحسن شاة، وقال: [يا فاطمة احلقي رأسه، وتصدقي بزنة شعره فضة، فوزناه فكان وزنه درهما، أو بعض درهم ترمذي شريف ] دي حديث كي راځي چي رسول الله ص دحسن رض دپيدايښت پسه

حلال کړو او فاطمي رض ته يې امر وکړو چي سر يې وخرېي او ويښتان يې دسپينو زرو سره وتلي او بيايې صدقه کړي علي رض فرمايې چي کله موږ وتلل نو يو درهم يا بعضې درهم ؤ

نو پورته حديث په متعددو طريقو روايت شوی دی

[ عن جعفر بن محمد بن علي عن ابيه انه قال وزنت فاطمة بنت رسول الله ص شعر حسن وحسين وزينب وام کلثوم فتصدقت بزنة ذالک فضة سنن الکبری جماع ابواب العقيقة ] يعنی بي بي فاطمي رض د حسن حسين زينب او ام کلثوم ويښتان د سپينو زرو سره وتلل او بيايې هغه مقدار صدقه کړل

[ څلورم حق ماشوم باندي دښه نوم کيښودل ]

دماشوم دحقوقو څخه اخيرنی حق دادی چي بايد په ماشوم باندي شرعي جايز عرفي نوم کيښودل شي ځکه دنوم ايښودل په يو کس باندي مستقيم اثر لري بي معنی نومونه دماشوم دخجالت کيدو سبب ګرځي او همدارنګه دماشوم د يواځيتوب سبب ګرځي

سنت طريقه داده چي نوم په اوومه ورځ باندي کيښودل شي

[ عن الحسن عن سمرة في العقيقة [ «تذبح يوم سابعه ويسمى زادالمعاد هدايا رسول في العقيقة ] پيغمبر ص فرمايې چي په ماشوم باندي حيوان هم په اوومه ورځ ذبح کړی او نوم يې هم په اوومه ورځ کيږدی

[ عن جعفر بن محمدبن علي عن ابيه عن النبی ص انه سمی الحسن يوم سابعه سنن الکبری کتاب جماع ابواب العقيقة ] يعنی کله چي حسن رض پيدا شو نو رسول الله ص يې په اوومه ورځ نوم کيښودو

نو په اوومه ورځ دماشوم نوم ايښودل سنت طريقه ده

که چيري يو ماشوم سقط شي يا زموږ په اصطلاح کي نقصان شي دوخت نه مخکي پيدا بيا مړ شو نو علماء کرام فرمايې که چيري ژوندی پيداشو نو نوم ايودلورباندي ضروري دي ځکه ورځ دقيامت کي هر سړی په خپلو نومونو رابلل کيږي

[ وروي: إذا ولد لأحدكم ولد فمات فلا يدفنه حتى يسميه إن كان ذكرا باسمالذكر وإن كان أنثى فباسم أنثى وإن لم يعرف فباسم يصلح لهما الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) - 4257/3860 ] ابن عابدين ليكلي دي كه چيرى ماشوم پيداشو او بيا مړ شو كه نارينه ؤ نارينه نوم كه ښځينه ؤ ښځينه نوم كه معلومات يې نه كيدل بيا چي كوم طرف ته مايل او يقين ؤ نوم به پري ايښودل كيږي

[ په ماشوم غوره نوم ايښودل په ماشوم اثر لري ]

| ابومخارق | ابومليل | ابوالنملة | ابوالهيثم |
| ابومدينة | ابوالمنتفق | ابونهيک | ابويحيى |
| ابومذكور | ابوالمنذر | ابوالواثلة | ابويزيد |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ابومرواح | ابومنصور | ابوواحد | ابواليسر |
| ابومرحب | ابومنظور | ابووائل | ابويونس |
| ابويقظان | ابن عدي | ابن النعمان | عم البراء |
| ابوامامة | ابن عصام | ابن المنتفق | عم جبر |
| ابن الاردع | ابن عسال | جد ابي الاسود | عم حسناء |
| ابن الاسفع | ابن عدس | جد اسماعيل | عم الحسحاس |
| ابن البحير | ابن عفيف | جدابي الاسد | عم رافع |
| ابن جارية | ابن عنام | جد مرارة | عم زيد |
| ابن جعدية | ابن الفراسي | جد دعثيم | عم رجل |
| ابن جمرة | ابن قريظة | جد امية | عم ابي الثماخ |
| ابن جميل | ابن القشب | جد ابي صعصة | عم شيبة |
| ابن حيدة | ابن اللتيبة | جد الصلت | عم عامر |
| ابن الحنظلية | ابن ليلى | جدطلحة | عم عبدالله |
| ابن خالد | ابن مديع | جدعدي | عم عمير |
| ابن الدحداح | ابن ابي مرحب | جدعمارة | عم قدة |
| ابن رمل | ابن مسعدة | جدمسمع | عم مجيبة |
| ابن سبرة | ابن مسعود | جد مروان | عم معاوية |
| ابن سيلان | ابن معيز | اخ عمرو | عم المغيرة |
| ابن الشياب | ابن ام مكتوم | خال ابي سوار | عم يحيى |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ابن شيبة | ابن مليكة | خال سويد | عم المهال |
| ابن عائد | ابن ناسح | عم اشعث | |
| ابن عبس | ابن نضلة | عم انس | |

**نوټ: په پورته طريقي سره دنارينه ماشومانو نومونه په تفصيل سره ذکر شول او دصحابه کرامو تر پنځلس سوه نومونو پوري مور په پورته جدول کي ليست کړي دي هيله لرم چي د ماشومانو دنوم ايښودلو په وخت کي يې دخپلو ماشومانو لپاره انتخاب او مور ته صدقه جارية وګرځي .**

**يوه يادونه مهمه ده هغه داچي په پورته ليست کي دصحابه کرامو بعضي داسي نومونه دي چي زمور او تاسو دټولني سره موافق ندي لکه اسماء الکنی او نور ليکن ما د تبرک لپاره هغه هم رانقل کړل همدارنګه دصحابه کرامو بعضي نومونه دجاهليت د زماني نومونه دي نو ځکه که دصحابه کرامو نومونه انتخابوی نو بايد معنی ته يې وکتل شي .**

## دانجونو يا ماشومو جينكيو لپاره شرعي نومونه

دانجونو لپاره شرعي نومونه ترډېولو هغه دي چې کوم په ماشومانو کې بهتر نومونه دي البته دانجونو په نومونو کې په اخير کې تاء دتانيث زائده کيږي بعضي دانجونو نومونه داسي وي چې اخير کې يې تاء زائده نه وي خو استعمال يې د ښځينه نومونو لپاره وي لکه زينب او هند او داسي نور زه به دهغه نومونو ليست وليکم چې هغه زموږ او ستاسو په ټولنه کې رايج نومونه او شرعي وي اخير کې به دصحابياتو او دانبياء کرامو دبعضو ښځو او لورانو نومونه هم مفصل ذکر کړمية خو دټولو نومونو سره به تاسو دبې بې کلمي ملحوظي بولی بعون الله تعالی وبحسن توفيقه انه تواب الرحيم ذوالعرش والارضين

[ العبدالاحقر عبيدالله عبيد الحنفي ګلشاخيل البکتيکاوي ارګوني ]

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدية | قاسمه | حاشره | رشيده |
| احمدية | عاقبه | ماحيه | منيره |
| حامدية | فاتحه | داعيه | بشيره |
| محمودية | خاتمه | سراجيه | نذيره |
| هادية | عادله | حريصه | مهديه |
| مُهْدِية | حکيمه | رؤفه | حقيه |
| زينب | نوريه | رحيمه | مبينه |
| طلحة | حجه | يتيمه | اوليه |
| طه | برهانيه | غنيه | قديمه |
| طليحة | ابطحيه | جوادية | ظاهره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| رفاعة | مومنه | فاتحه | باطنه |
| هانئة | مطيعه | عالمه | رحيمه |
| شفيعة | مذكِّره | طيبه | ذبيحه |
| خليلة | واعِظه | طاهره | حريره |
| كليمة | امينه | مطهَّره | آمره |
| حبيبه | مدنيه | خطيبه | ناهيه |
| مصطفيه | عربيه | فصيحه | شكوريه |
| مجتبى | هاشمه | سيده | قريبه |
| مرتضيه | تهاميه | مُنَقِّيه | منيبه |
| مختاريه | حجازيه | اماميه | صادقه |
| ناصرية | نزاريه | بريرة | مصدقه |
| منصور يه | قرشيه | شافيه | ناطقه |
| قايمه | مدينة ّ | متوسطه | صاحبه |
| حافظه | اميه | سابقه | مكيه |
| شهيده | عزيزه | مقتصده | مبلغه |
| مشهوده | حميه | حبيبه | اوليه |
| عادية | سلمة | شاكره | لطيفه |
| عبيده | سالمه | مشكوره | لاطفه |
| عابده | صفتيه | شكريه | وليه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| عباده | صفيه | قريبه | ولايه |
| راحمه | نوريه | سبحانه | روحيه |
| رحيمه | منوره | تسبيحه | امينه |
| مرحومه | انوريه | غنيه | مامونه |
| سليمه | منيره | مغنيه | نجيه |
| سالمه | شكوريه | قديمه | ناجيه |
| ناجمه | حكيمه | قديره | حاضره |
| نجيمه | حاكمه | كبيره | حياتيه |
| عليمه | حكمه | اكبره | حاذبه |
| باسمه | آمره | حاسبه | محذبه |
| بادئه | اميره | حسيبه | جنديه |
| بديعه | عميره | محسوبه | اجناديه |
| خليله | عميرا | رقيبه | برهانه |
| خطيره | عامره | قاربه | روحانيه |
| خاطره | بيتيه | شهيده | خيريه |
| ذبيحه | هاميه | مشهوده | صدقه |
| مذبوحه | همامه | شاهده | صادقه |
| مسبوحه | شمسيه | واحده | صديقه |
| محمديه | شعبه | احديه | مصدوقه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| احمديه | شعيبه | بديعه | اصدقه |
| حميده | شريعه | ناصره | منيبه |
| حامده | شفاعه | نصيره | منابه |
| محموده | شريفه | نصره | رجيعه |
| حمده | شاريفه | منصوره | فقيره |
| کليمه | اشرفيه | مطيعه | افقه |
| کريمه | شوکته | امينه | ضيائه |
| اکرمه | صابحه | امانيه | اضائه |
| اکراميه | صبوحه | آمينه | صبيره |
| مکرمه | صبيحه | فصيحه | صابره |
| حبيبه | معراجه | حليمه | صبوريره |
| محبوبه | عليه | کافيه | قريشيه |
| حابيبه | ولايه | کافيه | اميده |
| شفيعه | وليه | شوکتيه | فضله |
| وسيعه | نبيه | هيبه | فائضه |
| سعيه | حسنه | زاهده | فياضه |
| ساعيه | احسانه | زينت | کبيره |
| سعاده | حسينه | عينه | اکبره |
| فضله | حاسنه | معينه | عزيزه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| افضله | سميعه | عانيه | عازيزه |
| عاظمه | وسيعه | روحيه | نعمه |
| عظيمه | وساعه | نقيه | نعيمه |
| عظامه | بصيره | نجيبه | انعامه |
| عاصمه | لطيفه | زهديه | رضيه |
| معصومه | لاطفه | زاهده | رضوانه |
| حفيظه | خبيره | فتيحه | فدائه |
| حافظه | قادره | فاتحه | قربانه |
| محفوظه | قديره | مفتوحه | نظاميه |
| حفاظه | قادره | حاضره | ناظمه |
| داديه | اسيره | صمدية | نظيمه |
| مقسطه | سيفه | ناطقه | منظوم |
| قسطه | صارمه | نطيقه | مهديه |
| داديه | سيافه | صاحبه | وعظه |
| ثنائه | فاروقه | فصيحه | واعظه |
| رفيعه | صادقه | فاصحه | حجه |
| تقيه | صديقه | افصاحيه | دليله |
| نجيه | مصدوقه | مقتصده | نذيره |
| انصاريه | سهيله | قصيده | بشيره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| خلیله | ساهله | مقصوده | توابه |
| جمیله | فاتحه | غفیره | عفوه |
| جلیله | فتیحه | مشتاقه | معفوه |
| جماله | عاصمه | طیبه | مقیته |
| عارفه | هاشمه | طبیبه | مجیده |
| معروفه | هشیمه | وکیله | امجده |
| قسیمه | راشده | خلیفه | جیده |
| قاسمه | رشیده | نائبه | جیاده |
| عتیقه | ارشاده | هادیه | اجیاده |
| عاتقه | مهتابه | غفرانه | سلامه |
| حاضره | قمره | مریده | اسلمه |
| عطایه | لمعه | قسیمه | سلیمه |
| اعطایه | شاهبه | مقسومه | منقاده |
| اطاعه | ضوئیه | قاسمه | خادمه |
| جنیده | ظاهره | رؤفه | مخدومه |
| جندیه | اظهاریه | وادده | طالبه |
| طالبه | طاهره | منقوشه | مشفوعه |
| مطلوبه | مطهره | مرقومه | صحبیه |
| نجمه | خیریه | واصفه | متینه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| تقيه | خليفة | مستعانه | وعده |
| علامه | مخلوقه | احديه | موحده |
| حياتيه | وفيه | موفيه | عظامه |
| مُقْسَم | موجبه | روضه | نديمه |
| قسيمه | نجيبه | روضيه | سعديه |
| عقيبه | هاديه | شاكله | ساعده |
| فائزه | راشده | شكيله | مسعوده |
| فوزيه | رشيده | راسله | مساعده |
| مفوزه | مرشده | مرسله | ناصره |
| شاريفه | اكليمه | مرسل | منصوره |
| ناديه | راضيه | ناديمه | راحمه |
| ناهيده | رحيمه | مزدلفة | راحيله |
| آكله | مدينة | مروى | ساعده |
| موكله | منوره | صفا | سعيده |
| ناجبه | مكة | صفيه | شاكره |
| مشكوره | هانيه | قاهره | لاطفه |
| شكريه | ثانيه | باسطه | لطيفة |
| ناسمه | آنسه | خافضه | خابره |
| نسيمه | انيسه | جابره | خبيره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| نوريه | جميله | جبيره | عاظمه |
| امينه | جماله | مجبوره | عظيمه |
| مومنه | ناهيده | قادسه | حافظه |
| ذاكره | عادله | مقدسه | حفيظه |
| آلهه | معدوله | واهبه | محفوظه |
| الاهيه | قاسطه | موهبه | راقبه |
| خديجه | مقسطه | باريه | رقيبه |
| عايشة | ناصفه | سالمه | واسعه |
| فاطمه | ثريا | سلمه | موسعه |
| كلثوم | زليخا | مسلمه | كريمه |
| هوا | بلقيسه | مالكه | حاسبه |
| مريم | مجتبى | مليكه | حالمه |
| هاجره | عارفه | عاليه | حليمه |
| حاكمه | ماعده | زينب | نازله |
| حكيمه | حاصيه | زينت | تاليه |
| محكمه | محصيه | زائنه | ثابته |
| ماجده | نافعه | مزينه | رادفه |
| مجيده | مانعه | رقيه | راصده |
| باعثه | جامعه | ساريه | رابطه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| مبعوثه | مجتمعه | سارى | ظريفه |
| شاهده | باقيه | ثريا | ظرافه |
| شهيده | بادعه | ناجمه | غزاله |
| مشهوده | بديعه | ثاقبه | ناجيه |
| وكيله | هادية | تمنى | كلثوم |
| واكله | مهدية | ترجيه | لاقية |
| واليه | نورانيه | اشرفه | سواده |
| وليه | ماريه | شاربه | شرافه |
| ماتنه | زينبه | فاتحه | كبشة |

ديو څو مشهورو صحابياتو [ ښځو صحابه ؤ ] كرامو نومونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| آسيه | البيضاء | حسنة | رجاء |
| آمنة | ثبيته | حقه | رزينة |
| اروَى | ثويبه | حكيمة | رضوي |
| اسماء | تماضد | حليمه | رفاعة |
| اسيرة | تملك | حمامة | رفيده |
| امامة | تميمه | حمنه | رقيقه |
| امة الله | توامة | حمينه | رقية |

| | | | |
|---|---|---|---|
| اميمه | تويلة | حوا | رملة |
| انيسه | جثامة | حولاء | رميثه |
| بادية | جدامة | حويصلة | رميصاء |
| بشينة | جرباء | حية | روضة |
| بجيده | جسرة | خالده | ريحانه |
| بديله | جعدة | خزاعه | ريطه |
| برزه | جمانة | خديجه | زايده |
| برصاء | جمرة | خزيمه | زجاء |
| بركه | جميل | حفره | زرينه |
| بروع | جميله | خليده | زنيره |
| برة | جميمه | خليسه | زينب |
| بريده | جهدمة | خنساء | سائبه |
| بريره | جويريه | خولة | سبيعه |
| سبرة | حبشيه | خيره | سخبرة |
| بسرة | حبيبه | دره | سخيله |
| بشيره | حذاقة | رائطه | سدوس |
| بغوم | حرملة | رائعه | سديسه |
| بقيده | حزمة | رباب | سرى |
| بهيسه | حسانة | ربداء | سعاد |

| | | | |
|---|---|---|---|
| بهيه | حفصة | ربيع | سعده |
| سعدى | الشفاء | عتبه | غميصاء |
| سعيده | شفيره | عجماء | فارعه |
| سفانة | شقيقه | عجوز | فاضله |
| سكينة | شموس | عذبه | فاطمه |
| سلامة | شميله | عذه | فروة |
| سلمى | شهيده | عصمه | فريعه |
| سمراء | شيماء | عفراء | فسحم |
| سميه | صعبه | عقرب | فضة |
| سناء | صفيه | عقيله | فكيهه |
| سنينه | صماء | عكناء | كبشه |
| سهلة | صميته | علاثة | كبيشه |
| سهيمة | طريه | عليَّه | كريمه |
| سواده | طعيمة | عماره | كعيبه |
| سوداء | طفيه | عمره | كلثم |
| سوده | طليحه | عميره | قتيله |
| سيرين | ضباعة | عنقوده | قده |
| شجيرة | ضحاك | عويمره | قريبه |
| شراف | ظبيه | غايثة | قريره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| شرفه | عايشة | غفيره | قسره |
| شريره | عباده | غزيله | قفيره |
| قهطم | محجنه | مندوس | هبيل |
| قيله | محياه | منيعه | هجنع |
| لبابه | مريم | ميمونه | هداج |
| لبنَى | مزيده | هاشم | هدار |
| لسيبه | مسره | هاله | هره |
| لميس | مسيكه | هامه | هدم |
| لهيه | مطيعه | هانئ | هديم |
| ليلى | معاذه | هبار | هزيم |
| ماريه | مليكه | هبيب | هرماس |
| محبه | مليک | هبيره | هرمَى |
| هرمز | هند | هيبان | وابصه |
| هريم | هنيده | هيت | واثله |
| هزال | هويجه | هيثم | وازع |
| هسام | هوذه | هيكل | وازم |
| واسع | وردان | يحنس | نعامه |
| واصله | ورقذ | يحيى | نعم |
| واقد | وزر | يربوع | نعمَى |

| | | | |
|---|---|---|---|
| وائل | وقاص | هند | نفيسه |
| وبر | وفده | هزيله | نهيه |
| وجز | وعله | يسيره | نوار |
| وحشي | وليد | نائله | نوبه |
| وحوج | وهب | نبيسه | نويله |
| وداعه | وهبان | نبعه | هاله |
| وديعه | ياسر | نذبه | هزيله |
| ورد | يامين | نسيبه | هند |
| ودفه | يثربی | نسيکه | همينه |

## دکتاب دريمه : دماشومانو شرعي علاج په [ دم، تعويذ ، چاشت، او دوا سره ]

د وعدي سره سم دکتاب دريمه برخه دماشومانو شرعي علاج کولو طريقي او يو شمير هغه دمونه او تعويذونه چي دپيغمبر ص صحابه کرامو او سلفو صالحينو لخوا يی موږ ته لار ښوونه شوي ده ددي سربيره د ولادت په وخت کي د مور لپاره چي کوم دردونه راپورته شوي د هغي داسانتيا لپاره همدارنګه دنظر حفاظت او دهغي علاج يا دبد نظرى علاج او ددي متعلق يو شمير نور مسايل به دکتاب په دي دريمه برخه کي مفصلا ذکر شي الله ج دوګړي چي دا کتاب ما او زما والدينو کورنی او استاذانو ته د اجر او ثواب ذخيره او سبب وګرځي او دقيامت تر ورځي يی راته صدقه يی جاريه شي دتاسو محترمو نه هم زموږ دا هيله ده چي دوالدينو اداب د په اولادونو د ښايسته نومونو ايښودل او دهغوی شرعي علاج کولو لپاره له دي کتاب نه ګټه واخلی تر څو دخدايي کسؤليت نه خلاص او ماجور وګرځی صدق الله العظيم

### [ دسترګو دنظر تاثيرات ]

دقرآن کريم او حديثو له مخي نظر حق دی ، ضرري سترګو د ضرر تاثيرات ذی روح او غير ذی روح دواړو ته ثابت حقيقت لري، بد نظر يو قسم مسمريزم دی لکه مضره دوا يا خوراک چي انسان بيماروي، يخنی او ګرمی په اثر رنځ پيدا کېږي دغه شان د بدنظر يا خيال په قوت سره تصرفات هم دعادي اسبابونه دي

څرنګه چي د خلکو عرف او عادت په دې جاري دی چې ديو شي په حقيقت او مفهوم پې عقل کار ونکړي نو هغه ردوي او ملنډې پرې کوي او انتقاد وربانديې نيسي ، همدارنګه د طب ځينی پوهان هم دنظر مسئله بې بنياده ګڼي او نه يې کوم تاثير مني.

دپاريس په بين المللی کانفرانس کښې روسي عالم(فلايل کازناتشوف) د (پاراپسيکولوجی) د علم دتحقيق په مورد کښې وويلې: دې نه مخکښې چي جهان په ورانی تبديل شي نو بايد خلک د پاراپسيکولوجی دعلم په لوري وګرځوو، هغه علم چې د ماورای نفس او د انساني خارقه قدرتونو څخه بحث کوي، ځکه چې همدغه د انسان دسر د مغزو بيولوجيکی او د حواسو قدرت دی چې د

ډېرلړې واټنو څخه خپل مثبت او منفي تاثیرات متحقق ګرځوي، دغه موضوع چې پوهانو اوس د بحث لاندې نیولې ده په قرآن کریم کښې د وړاندې نه بیان شوې ده الله ج په سورة یوسف کښې فرمائلي دي:مَّا كَانَ يُغْنِي عَنْهُم مِّنَ اللّهِ مِن شَيْءٍ إِلاَّ حَاجَةً فِي نَفْسِ يَعْقُوبَ قَضَاهَا وَإِنَّهُ لَذُو عِلْمٍ لِّمَا عَلَّمْنَاهُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ.

نه ؤ دغه ننوتل له بېلو بېلو دروازو چې دفع کړي له دوئ نه له قضا دالله څخه هیڅ څیز لیکن یو حاجت چې په نفس د یعقوب کښې ؤ ادائی کړ هغه، او بیشکه دغه (یعقوب) خامخا خاوند د پوهې ؤ په سبب ددې چې خبردار کړی ؤ مونږ دی لیکن زیات دخلقو نه پوهیږي(په دې چې نه اوړي تقدیر په تدبیر)

یعنی څرنګه چې یعقوب علیه السلام خپلو زامنو ته ویلې ؤ همغسې ننوتل، اګر که دوی ته نظر او دسترګو ضرر ونه رسیدو لیکن د بل لوري تقدیر ور ورسید چې (بنیامین) دغلا په الزام کښې واپس کړای شو ، نو دعلم خاوندان په دې عقیده لري چې تقدیر نه دفع کېږي، پر تقدیر یقین او دنجات پر اسبابو یې پوهه حاصل کیدی شي، خو بې علمه کس پر یوه پوهیږي اوله دوهمه بې خبره پاتې کېږي، یا بیخي پر اسبابو تکیه کوي اوله تقدیره منکریږي یا پر تقدیر باندې د یقین لرلو معنا داسې ګڼي چې ټول اسباب معطل کړل شي، البته عارفان او پوهان تقدیر او تدبیر دواړه ټولوي.او په بل مبارک ایات کښې فرمائی:وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوالذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ( القلم)

او بیشکه و هغه کسان چې کافران شوي دي خامخاوبه ښویوی تا(وبه دې غورځي په ځمکه) په سترګو خپلو سره هر کله چې واوریده دوی قرآن(ستا له ژبې) او وایي دوی (دکینې له مخې) بیشکه دغه (محمد) لیونی دی .

په دغه دوه ایاتونو کښې دبد نظر تاثیرات د(پاراپسیکولوجي) دعلم د بنیاد څخه مخکښې خلکو ته واضح شوي دي ترڅو چې ددغه ډول نظرناکو او حسد لرونکو سترګو نه ځان وساتي ددې نه معلومه شوه چې دبد نظر اثر حق دی، د نبی علیه السلام په یو مبارک حدیث کښې دي چې بد نظر یو انسان لره قبر ته او اوښ لره کټوی ته رسوي، په دې وجه نبی کریم ص چې د کومو څیزونونه پناه غوښتلې ده او خپل امت ته یې هم د پناه غوښتلو تلقین فرمایلی دی یو پکښې بد

نظر دی، نبی ص فرمائيلي دي:[اَعُوذُ بِکَلِمَاتِ اللهِ التامة مِن شَرِّ شیطٰنٍ وَ هامةٍ و مَنْ کُلِّ عَیْنٍ لَّامَّةٍ]یعنیزه دالله په کامل کلام سره د شیطان له شره،اوزهرناک (حیوان) نه ، او له هرې آفت او ضرر رسونکی سترګې نه پناه غواړم

په صحابه کرامو کښې د ابو سهل بن حنيف واقعه د حديثو په کتابونو کښې مشهوره ده، چې يوځل يې د غُسل کولو لپاره کپړې اوويستلې نو دده په سپين او تندرست بدن دعامر بن ربيعه نظر پريوت او د ژبې نه يې او وتل چې ماخو تر ننه پورې دومره ښائسته بدن د هيچا نه دی ليدلی ددې وينا سره سمدستي په سهل بن حنيف باندې سختهتبه راغله ،نبی کريم ص چې ددې نه خبر شو نو د علاج تجويز يې داسې وکړو چې عامر بن ربيعه ته يې حکم اوکړو چې دی دېاودس وکړي او داوداسه اوبه دې په يو لوښي کښې جمع کړي او دغه اوبه دې دسهل بن حنيف په بدن واچولی شي، داسې يې وکړلو نو فوراً يې تبه لرې شوه او تندرست شو ، په همدغه واقعه کښې نبی اکرم ص عامر بن ربيعه ته دا خبرداری هم و فرمائيلو :[[ څوک سړی خپل ورور لره ولې قتل کوي تا داسې ولې ونه کړو چې هر کله دده بدن تاته په نظر ښه راغی نو دبرکت دعا دې کړی وه نظر اثر کيدل حق دي]].

کچيرې يو کس ته دچا بدن ، مال، فصل او... په نظر ښه راشي نو د روايتونو په رڼا کښې به داسې وائي(فتبارَکَ اللهُ اَحْسَنُ الخالِقين( يا)مَاشَاءَ اللهُ لا قُوَّةَ اِلاَّ باللهِ)

مسلمان بايد اصل بروسه او توکل په الله ج وساتي مګر جائز ظاهري او مادي اسباب هېر نه کړي، مولانا روم فرمائيلي دي برتوکل زانوی اشتر به بند يعنې د اوښ زنګون وتړه نو بيا يې توکل ته وسپاره

[ نظر او جادو نه دحفاظت لپاره ځيني شرعي اسباب ]

رسول الله ص فرمايي: [اَکْثَرُ مَنْ يَمُوْتُ مِنْ اُمَّتِیْ بَعْدَ قَضَاءِ اللهِ وَقَدَرِهِ بِالْعَيْنِ ( )]

ترجمه: زما په امت کې ډېر خلک د الله ج د قضاء او تقدير نه وروسته د نظر له امله مري.

زموږ لپاره دا پکار دی چې د حفاظت او پرهېز اسباب و پيژنو،کوم چې نظر او جادو د واقع کيدلونه مخکې دفع کوي او بيا يې عملي کړو،نو حفاظت (پرهېز) په ډېرو شيانو سره حاصليدی شي،چې ځيني يې په لاندې ډول دي:

**ôکه یو څوک په جادو او نظر کولو باندې مشهور شي،نو د هغه نه باید خلک ځان وساتي.**

**ô کله چې څوک هغه شی ووینې چې انسان پرې خوشحالیږي،باید الله ج یاد کړي او مبارکي پرې و وایي،سول الله ص فرمایي: (إِذَا رَأَى اَحَدُكُمْ مِنْ نَفْسِهِ اَوْ مَالِهِ،اَوْ اَخِيْهِ مَا يُحِبُّ،فَلْيُبَرِّكْ،فَاءنَّ الْعَيْنَ حَق) [راوه الحاكم]**

**ترجمه:کله چې له تاسونه څوک په خپل نفس او مال کې او یا په خپل ورور کې داسې څه و وینې چې هغه خوښوي نو تبریکي(بارک اللهُ لک) دې و وایي،ځکه چې نظر حق دی.**

**ô د سحر او جادو نه د وقایې او حفاظت لپاره ، هر سهار اوه(۷) دانې د مدینې د )عجوه( نوعې کجورې خوړل یو اهم سبب دی.**

**ô جادو او سحر نه الله ج پورې پناه نیول، او دشرعې اذکارو او دعاګانو پابندي کول،او په الله ج توکل او ښه ګمان کول .**

**ôô که معلومه شوه چې مرض د نظر له امله دی نو علاج به یې د الله ج په اذن سره په دوو طریقو سره وي:**

**الف: که چېرته نظر باز (نظر کونکی) معلوم وي نو هغه ته به حکم وکړي چې غسل وکړي بیا به مریض په هغې مستعملو اوبو باندې غسل وکړي او یا دې وڅښې.**

**ب: او که نظر باز معلوم نه وي نو بیا به علاج په شرعي دمونو،دُعاء او یا په ښکر لګولو سره وکړي.**

**ôô که د مرض سبب جادو او سحر وي : نو په لاندې طریقو سره به دالله ج په اذن سره د هغې علاج کیدی شي.**

**۱- که د جادو او کوډو ځای معلوم وي : نو کوډې به راواخلي او غوټې به یې ورله خلاصي کړي،او قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دوه سورتونه به پرې ولولي او بیا به دغه کوډې وسوزوي.**

**۲- شرعي دمونه: دقرآن کريم په اياتو او خاصکر په سورة بقره،سورة فلق،سورة الناس او نورو مسنونه دُعاګانو باندې .**

**۳- نشره)د جادو او کوډو خلاصول(: او دا په دوه قسمه ده:**

**الف: حرام او ناروا : چې هغه دجادو د تاثير ختمول دي په جادو او سحر سره،او جادوګرو او ساحرانو ته تلل چې دده د سحر او جادو اثر ختم کړي.**

**ب: جايز او روا: چې ځيي دادي: د سدر )بيرې( اوه )۷( پاڼي به په ګټه باندې وټکوي او بيا به پرې درې کرتې سورة الکافرون،اخلاص،فلق او الناس ولولي بيا به يې په اوبو کې ګډې کړي او په مريض به يې و څښي او يا به پرې غسل وکړي او څو ځلې به دغه طريقه سرته ورسوي تر څو چې الله ج ورله شفاء ورکړي. )په مصنف عبدالرزاق کې داسې طريقه ذکر شوي(**

**٤-که چېرته دجادو او سحر اثر په خيټه کې دننه وي نو ق دې وکړي او که چېرته په بل ځای کې وي نو ښکر دی ولګوي.**

**<u>[ دسترګو دنظر نه دبچ کيدو لپاره دماشوم پوزه يا تندی تورول ]</u>**

**فايده: حضرت عثمان رض چی کله يوخايسته ماشوم وليدلو ، نو امر ئی وکړ چی ددې ماشوم دزنی سر (څوکه ) تور کړئ! - قال عثمان رض :لما رأ ی صبياً مليحاً ،(دسموا نونته لئلا تصيبه العين ) أی سودوا نقرة ذ قنه .[تفسير روح البيان سورة يوسف ،تفسير قرطبی سورة الانبياء،شرح شرعة الاسلام ]**

**اوبل ډير مفيد علاج د نظرلپاره دسورة القلم ۵۲-۵۱ اياتونو تلاوت کول دي**

**اوله دعا نظر نه دحفاظت:**

**(﴿أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لاَمَّةٍ﴾).**

**دوهمه طريقه**

**ياد لاندي ايتونه وليکي دماشوم په غاړه کي دواچوي [ تعويذ دبی کړي ]**

[ وَإِنْ يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ وماهو الا ذكر للعلمين سورة القلم ]

دریمه دعا

يا دماشوم ته دا دعا وليكل شي په غاړه کي دواچول شي

[ بسم الله الرحمن الرحيم اعوذبكلمات الله التامات من شر كل شيطان وهامة وعين لامة بسم الله الذي لايضر مع اسمه شى في الارض ولافي السماء وهو والسميع العليم ]

څلرومه دعا

[ لا حول ولاقوة الا بالله ] ډیر ډیر ويل

<u>[ دنظر دحفاظت لپاره په فصلونو کي دغوا ښکر یا دغوا یا حیوان دمخ هډوکی لګول]</u>

درالمختار کي ليکل شوي چي فصلونو کي دجمجمو لګول جایز دي ځکه چي په دي سره بد نظر دفع کيږي [ وفيها لا بأس بوضع الجماجم في الزرع والمبطخة لدفع ضرر العين، لأن العين حق تصيب المال، الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) - 4257/3806 ]

احاديثو کي رانقل شوي دي چي دا ډول عمل په فصلونو کي لګول جایز دي.

داهم جایز دي چي په فصلونو کي دنظر دحفاظت لپاره دشکل درول شي

[ أن امرأة جاءت إلى النبي - صلى الله تعالى عليه وسلم - وقالت نحن من أهل الحرث وإنا نخاف عليه العين فأمر النبي - صلى الله عليه وسلم - أن يجعل فيه الجماجم»] داحديث سنن الكبرى کي جامع الصغير مجمع الزوايد مسند بزار کي په مختلفو طروقو سره نقل شوى دى او مرتبي دحسن ته رسيدلى دى

[ عن عمر بن العلي بن الحسين ان رسول الله امر بتلك الجماجم تجعل في الزرع من اجل العين سنن الكبرى كتاب الطب ] يعني رسول الله ص به خلكو ته امر كولو چي فصلونو کي دا جمجمه ولګوي دنظر لپاره

[ دنظر شوي کس دعلاج طريقه ]

کوم کس چي نظر شوی وي يا ماشوم نظر شوی وي نو علاج يې دادی چي که چيري کس معلوم وي نو دا کس د لاسونه پښي مخ او زنګنونه په يو تال يا لګن کي پريمنځي او په نظير شوي کس دکينوي او بيا د ور باندي اوبه توی کړی اوبه به دشا له طرفه پري توی شي دنظر دحفاظت لپاره هره طريقه استعمالولی شی خو چي صرف دشرکياتو څخه خالي وي

دمورډ او تاسو په ټولنه کي هم د نظر دايتستلو ډيري طريقي دي

يوه طريقه داده چي اوړه اخلي او په ماشوم يې څو ځله تيروي په هر ځل بسم الله يا لا حول ولاقوة الا بالله وايی او بيا اوړه جمع کوي نو داسي قسم نظير ايستل هم جايز دي بعضي خلک بيا مسله يا ترخه را اخلي او همدا شان يې پري تيروي دا هم جايز دي

[ نظر شوي ماشوم ته د سپيلني لوګی کول ]

موږ مخکي وويل چي دنظير هره طريقه چي شرکي نه وي استعمالول يې جايز دي نو په همدي بناء د سپاندي يا سپيلني لوګی کول هم د نظير لپاره جايز دي

[ من حديث ابن عباس رضي الله عنهما، عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: [ «ماذا في الأمرين من الشفاء؟ الصبر والثفاء» ] رواه أبو داود في المراسيل.نقلت من زاد المعاد كتاب الطب ] ابن القيم ددي حديث باره کي فرمايی چي په دوه شيانو کي پيغمبر ص فرمايی تر ټولو زياته شفاء ده يو بادبرک يا مړغونی بل سپيلنی يا خردل بيا ابن القيم ددي حديث نه په استدلال د سپيلني ډيري فايدي ذکر کړيدي بيا فرمايی

[ وإذا دخن به في موضع، طرد الهوام عنه ] يعني کوم ځای کي لوګی شي حشرې دهغي ځای نه ورکيږي همدارنګه وايی اکثره خلک يې د بد نظری لپاره دودوي نو دسپيلنيو دودول جايز دي

بل حديث کي راځي [ عليکم بالثفاء فان فيه شفاء من کل داء رواه ابن سني وابونعيم کذافي جامع الصغير وسنن الکبری ] دا دواړه احاديث او نورو چي يوځای کي درجي دحسن ته رسيږي او قابل تمسک ګرځي

[ په کور کي دسپين چرگ ساتل دجادو او نظر نه دحفاظت لپاره مفيد دی ]

زموږ او ستاسو په ټولنه کي اکثره خلک په کورونو کي د نظر دحفاظت لپاره زرک ساتي نو که دنظر دحفاظت په نيت وساتل شي جايز دی خو اکثره خلک يې په قفس کي بندوي دا جايز ندي ځکه حيوان ته تعذيب دی بايد په کور کي د چرگانو پشان روږدي شي

همدارنگه په کور کي دسپين چرگ ساتل هم دنظر دحفاظت لپاره مفيد دی همدارنګه کوم کور کي چي شپين چرگ وي شيطان هغه کور ته نه نيږدي کيږي او په دغه کور باندي سحر هم اثر نشي کولی په [ المعجم الاوسط اول ج دوه سوه اوله ص ] کي يو حديث رانقل شوی دی چي کوم کور کي سپين چرگ وي هغي کور ته شيطان نشي نږدي کيدلی او سحر هم اثر نشي پري کولی

[ دمريضی غم پريشانی يې علته درد لپاره علاج ]

که چيري ديو کس تبه وي يا درد ورته پيداشو يا غمجن ؤ يا يی زړع تنگيده نو دهغي لپاره علاج دادی چي لاندي دعا ګاني دپري وويل شي او پري چپ دګړي

[ بِسْمِ اللَّهِ الْكَبِيرِ أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ]]. الترمذی

دوهمه دعا

کوم ځای چي درد کوي سر يا غاښ نا ګيډه يا ستونی يا زړه يا بل ځای نو په هغه ځای ښي لاس کيږدی او دا کلمه پري چپ کړی بيا دا کلمه ووايی هغه ځای باندي لاس تير کړی اوه ځله دا کلمي ووايی او هغه ځای باندي ښي لاس تيروی

[[امْسَحْ بِيَمِينِكَ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَقُلْ أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُوَّتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ]] الترمذی

دريمه دعا اوه ځله ويل

[ ٍ أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ إِلاَّ عُوفِيَ]]. الترمذی

څلورمه دعا

[ [اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَاسِ اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لاَ شَافِيَ إِلاَّ أَنْتَ، شِفَاءً لاَ يُغَادِرُ سَقَمًا]]. البخاري

پنځمه دعا

[امْسَحِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ، بِيَدِكَ الشِّفَاءُ، لاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ أَنْتَ البخاري ]

شپږمه دعا

[ بسْمِ اللَّهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا. بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، يُشْفَى سَقِيمُنَا بِإِذْنِ رَبِّنَا البخاري ]

اوومه دعا

كوم ځاى چي درد كوي هغه دونيسي درى ځله د بسم الله او اوه ځله د لاندي كلمات ووايى

[ أعوذ بعزة [ بالله ] وقدرته من شر ما أجد وأحاذر ] تفسير قرطبي في فضيلة بسم الله

[ كله چي ښځي ته دولادت دردونه پيداشي ]

كله چي ښځي ته دولادت دردونه پيداشي نو د ولادت د دردونو داسانتيا لپاره همدارنګه د بچي دحفاظت لپاره علماء كرامو منثوري دعاګاني نقل كړي دي

اوله طريقه

كله چي ښځي ته دولادت دردونه پيدا شي نو لاندي ايتونه د په كاغذ كي وليكى بيايى په يوه ټوټه كي تاو كړى او دښځي په چپ ورون كي يى وتړى ان شاءالله دولادت په درد كي به يى كمى راشي او بچى به زر پيدا شي او دردونه به يى كم شي

[ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ اَهْيًا اشَرُ هَيًّا اللهم سهل عليها الوردة خلقه فقدره ثم السبيل يسره ] نوت: لا اهيا اشر هيا د يا حي يا قيوم په معني سره دي

دوهمه طريقه

لاندي اياتونه د وليكل شي بيا د خاښت كړل شي يعني كاغذ كي يى وليكى بيايى په اوبو كي واچوى او په مريضي ښځي يى وڅښى ان شاءالله چي په ولادت كي يى سهولت وي

[ بسم الله الذي لا اله الا هو الحكيم الكريم سبحان الله العظيم كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَاهَا كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ ۚ بَلَاغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ ] قرطبي

[ دحمل دحفاظت لپاره علاج ]

كه چيري يوه ښځه په دي ويريږي چي حمل يې ضايع نشي نو دحمل دحفاظت لپاره يي طريقه داده چي يولس كزه تارونه شنه يا تور [ مورږ ورته اوم يا وم تار وايو چي اكثره خلك تري زونډي جوړوي يا عادي تارونه وي ] نو درې څلور پټه يې كړي بيا دسورت يس د [ يس نه تر إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُبِينٍ ] يو ځل وواېي او تار ته غوټه وركړي بيا دوواېي بيا غوټه وركړي چي ټول داسي غوټه شي نو اخير كي يې د ښځي په ګېډه وتړي ان شاءالله دحمل حفاظت به يې وشي

[ دچا چي زړه سخت وي ګناه ورته ګناه نه ښكاري دهغي علاج]

كه يو كس بي باكه ؤ او هيڅ نصيحت پري اثر نه كاوه له دينه يې زړه تور ؤ زړه كي يې قساوت او سختي وه نو دهغي دختمولو علاج دادی چي سورة ياسين د په زعفرانو په يو جام يا لوښي وليكل شي بيا دې پكي اوبه واچوي او په دي سخت زړي كس دې وڅښي ان شاءالله زړه به يې نرم شي

[ حدثنا محمد بن الصلت عن عمر بن ثابت عن محمد بن مروان عن أبي جعفر قال : من وجد في قلبه قساوة فليكتب " يس " في جام بزعفران ثم يشربه تفسير قرطبي سورة يس ]

[ دشپې چي ويده كيږې نو دپيريانو شيطانانو حيواناتو نه دحفاظت دعا]

كله چي دشپي ويده كيږی بيا بلخصوص كه په سفر چيري روان وی نو كله چي يو ځای كي بار واړوی او ويده كيږی نو دا لاندي دعا وواېي چي دپيريانو انسانانو حيوانانو حشراتو مارانو لړمانو له ضرره په امان شی

[ : يا أرض ربي وربك الله أعوذ بالله من شرك [ وشر ما فيك ] [ و ] شر ما خلق فيك ومن شر ما يدب عليك [ وأعوذ بالله ] من أسد وأسود ومن الحية والعقرب ومن [ ساكن ] البلد ووالد وما ولد تفسير قرطبي سورة فاتحه اية بسملة ]

دوهمه دعا یا دې دا دعا ووایی

[ أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق ] تفسیر قرطبي حواله مذکوره

[ یو کس باندي چې سخت تکلیف وي دهغې علاج ]

کله چې یو کس باندي تکلیف وي او سخت دردونه احساسوي نو دتکلیف د دفع کولو علاج دادی چې په دي کس به سورة الفلق او سورة الناس ویل کیږي او بیا به پري چوپ کیږي او هغه د درد ځای به مسحه کوي که خپله یې زده ؤ نو خپله د دا سورتونه ووایی او په ځان دیی چوپ کوي

[ وقال الإمام مالك : عن ابن شهاب ، عن عروة عن عائشة : أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان إذا اشتكى يقرأ على نفسه بالمعوذتين وينفث ، فلما اشتد وجعه كنت أقرأ عليه ، وأمسح بيده عليه ، رجاء بركتها تفسير ابن كثير سورة الفلق ]

[ دنفاق نه دځان ساتلو علاج ]

تفسیر قرطبي کي دسورة الفلق په تفسیر کي لیکل شوي چې که یو کس غواړي چې دمنافقت او کفر نه ځان وساتي نو سورة الفلق او والناس د هر وخت وایی دنفاق نه به محفوظ وي

[ إن المعوذتين كان يقال لهما المقشقشتان ؛ أي تبرئان من النفاق . ]

همدارنګه دزمزم اوبه هم نفاق له منځه وړي حضرت ابن عباس رضی الله عنه وایی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې دزمزم په اوبوښه ځان اوبه کی داځکه چې دانفاق له منځه وړی. (بحرازازرق)

دزمزم اوبه اودجهنم اورنه سره یوځای کیږی.په یوروایت کی راځی چې دزمزم اوبه اودجهنم اوردیوه بنده(مؤمن) په نس کی نه سره یوځای کیږی. ( بحرعمیق)

علماء کرام لیکی چې یوڅوک دایمان سره په پوره اخلاص سره دزمزم اوبه وڅیښې نوددې اوبوسره دجهنم اورنه ورسره یوځای کیږی

[ مرخیړو یا دطوطي مرۍ باندي د سترګو علاج ]

قال ص (فِی الحَبَّةِالسَّوْداءِ شِفاء مِن کُلِّ داءٍ الا السام یعنی الموت) ()

ژباړه: حضرت ابو هريرة رض وايې چې ما د نبی ص څخه اوريدلي دي چې فرمائيل به يې:په حبة السودا کښې د ټولو دردونو لپاره شفاء ده ماسوا د مرګ څخه.

همدارنګه اوس اوس يو شمير پوهانو دا په اثبات رسولې ده چې مرخيړی ډېر زيات طاقتور او ګټور خواړه دي خو لکن الحمدلله مسلمانانو ته د وړاندې نه نبی اکرم ص دارنګه ارشاد فرمائيلی دی:

((اَ لکَمْأةَ مِنَ المَنِ الَّذی اَنْزَلَ اللهُ عَلیَ موسیٰ عليه السلام وماؤ ها شفاء للعين))

مرخيړی(سمارق) موسیٰ عليه السلام ته د نازل شوي (مَنْ) په څېر ده او اوبه يې د سترګو لپاره شفاء ده ، يعنی څرنګه چې من بې له کوم زحمت او تکليف نه تيار خوراک د موسی عليه السلام قوم لپاره نازل ليدو، نو همدارنګه مرخيړی بې غير د کوم تکليف دکرلو او اوبو کولو نه الله ج زرغونوي، چې تور دهغې زهري او ضرري دي او سپين يې د سترګو لپاره شفاء ده ، ددې نه علاوه د نورو زياتو خوراکي شيانوفائدې ذکر شو

[ دزمزم اوبه او دهغې فايدي او کمالات ]

حضرت ابن عباس رضی الله عنه وايی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې تبه دجهنم دګرمی اثردی نوتاسی ئې دزمزم په اوبوسره تسکين کی. (بحرازاحمدوشيبه)

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې داپنځه شيان په عبادت کی شامل دی:

۱: وقرآن شريف ته کتل ۲: وکعبې شريفې ته کتل. ۳: دموراوپلاروڅهرې ته کتل.

۴: وزمزم ته کتل ، چې داګناه رژوي۵: دعالم دين ومخ ته کتل

رسول الله صلی الله عليه وسلم هرسهاردزمزم اوبه څيښلې

حضرت ام ايمن رضی الله عنهاوايی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هيڅکله هم نه دتندې اونه هم دلوږې څخه شکايت کړيدی، هره ورځ سهاربه ئې دزمزم اوبه څيښلې اوکله چې به مايوشی دخوراک لپاره ورور نوده به راته وويل چې موړيم.

(بحرعميق)

دزمزم اوبه دحوض کوثرڅخه افضلې دې :

حضرت ابوذررضی الله عنه دمعراج په کیسه کی نقل کوی چې رسول الله ص وفرمایل: ففرج صدری ثم غسله بماء زمزم (بخاری)

زماسینه ئې خلاصه کړه اودزمزم په اوبوئې پریمنته.

شیخ الاسلام علامه بلقینی رحمة الله علیه وایی چې که چیری دزمز م اوبه دحوض کوثرتراوبونه وای افضلې نودحوض کوثراوبه به ئې راوړی وای اودده صلی الله علیه وسلم سینه مبارکه به ئې په پریولې وای (نشرالطیب)

په مبارکواحادیثوکی دزمزم داوبوزښته ډیره یادونه شوی ده هیله لرم چې همدومره به کفایت وکی، انشآء الله اوزه ددې لیکنې په پای دهغوکتابویادونه کوم چې دزمزم داوبوپه هکله لیکل شوی دی، اوکه یوڅوک وغواړی چې نوره مطالعه پکښې وکی نوکولای ئې شی چې تری استفاده وکړی اودپوهې تنده ئې پری ماته شی.

دزمزم اوبه چې دهرمقصدلپاره وڅیښل شی هغه مقصدبه ئې پوره شی:

(مآء زم زم لماشرب له فان شربته تستشفی به شفاک الله)

۱: دحضرت عمررضی الله عنه نیت:

کله چې حضرت عمررضی الله عنه دزمزم اوبه وڅیښلې نودادعائې وکړل:

اللهم انی اشربه لظمایوم القیمة

ای الله ! زه دااوبه دقیامت دوږځې دتندې لپاره څیښم( چې هلته بیاتږی نشم).

(الجواهرالمعظم، نشرالآس )

۲: دسیدناحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نیت:

کله چې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دزمزم اوبه څیښلې نودادعائې وکړه: اللهم انی اسألک علمانافعاورزقاواسعاوشفآء من کل داء.

ای الله! زه ستاڅخه دعلم نافع، دپراخه رزق اودهرتکلیفڅخه دشفاء غوښتنه کوم.

۳: دامام عبدالله ابن مبارک رضی الله عنه نیت:

امام حافظ شیخ الاسلام علامه عامل متوفی۱۸۱ رحمة الله علیه وایی چې عبدالله ابن مبارک رضی الله عنه دزمزم دڅیښلولپاره راغی، دڅیښلولپاره ئې اوبه واخیستلې اوخپل مخ ئې دکعبې شریفې پرلورکی اوداسی دعائې وکړه

اللهم ان ابن موابی الموالی حدثناعن محمدبن المنکدرعن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال ماء زمزم لماشرب له وهذاشربه لعطش یوم القیمة ثم شربه.

ای الله ! ابن ابی موالی وماته بیان وکی چې وماته محمدبن منکدروویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې تاسی دزمزم اوبه چې دهرنیت لپاره وڅیښی هغه مقصدبه موترسره شی، اوزه دااوبه دقیامت دورځې دتندې لپاره څیښم، چې وروسته ئې وڅیښلې.

(ترغیت وترهیب، تاریخ بغداد، مسنداحمد، متجررابع حافظ دمیاطی، جزء ماءزم زم)

۴: دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه نیت:

کله چې حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه دزمزم اوبه څیښلې نودزیات اونفع رسوونکی علم غوښتنه ئې دخدای جل جلاله څخه کوله، چې دادزمزم داوبوبرکت وچېډیرلوی عالم اوفقیه شو. (نشرالآس لوحة ۱۶ ب)

۵: دامام شافعې رحمة الله علیه نیت

امام شافعې رحمة الله علیه ددرومقاصدولپاره دزمزم اوبه څیښلې

لومړی: دغشودویشتلولپاره، دزمزم داوبوڅخه وروسته چې کله به ئې لس غشی وویشتل نوپه لسوکه به کله یوخطاشواو۹ټول به درست ولګیدل.

دوهم: دعلم لپاره ، چې علم ئې زیات اونافع شی. دریم: وجنت ته دداخلیدولپاره.

(اخبارالاذکیا ابن جوزی، جزءماء زمزم، نشرالآس، الجواهرالمعظم، الجواهرالمکنونة)

۶: دامام احمدبن حنبل رحمة الله علیه نیت:

امام احمدبن حنبل رحمة الله علیه چې کله وفات شوپه ۲۴۱ هجری کی نودده ځوی عبدالله بیان کوی چې کله به زماپلاردزمزم اوبه څیښلې نودشفاءدعابه ئې کوله اوخپل لاسونه اومخ به ئې په لانده کړل. [سیراعلام النبلاء، ذهبی، التزام مالایلزم]

۷: ابن قیم رحمة الله علیه اودزمزم اوبه:

ابن قیم رحمة الله علیه وایی: مادتل په شان دزمزم په اوبوسره شفاء حاصلوله، اوالله روغیتاراکوله، زه یووخت په مکه مکرمه کی ناروغه شوم اودارودرمل نه وه نوماخپله ټول علاج دزمزم په اوبوسره کاوه او(ایاک نعبدوایاک نستعین) می پروایلو [زادالمعاد

۸: امام زین الدین عراقی رحمة الله علیه اودزمزم اوبه:

امام زین الدین عراقی رحمة الله علیه دخومقصدولپاره دزمز م اوبه استعمالولې، چې یونیت ئې داوچې الله دده دنس ناروغې لیری کی، چې همداسی وشول، اودتل لپاره ئې دزمزم اوبه دهرډول تکلیف لپاره استعمالولې. [شفاء الغرام]

۹: دامام ابن خزیم رحمة الله علیه نیت:

له ده څخه پوښتنه وشوه چې تاسوعلم څنګه حاصل کی؟

ده په خواب کی ورته وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی، دزمزم اوبه چې په کوم نیت وڅیښې هغه مقصدبه موترسره کیږی، نوکله چې ماوڅیښلې نوالله علم نافع راکړې [سیراعلام النبلاء، تذکره الحفاظ]

۱۰: دامام حاکم رحمة الله علیه نیت:

امام حافظ محدث ابی عبدالله حاکم وایی چې مادزمزم اوبه دښه تصنیف لپاره وڅیښلې، اوالله می دامقصدراپوره کی، اوزماپه زمانه کی زماتصنیفونه ترټولوښه وه.

[تذکرة الحفاظ ذهبی، جزء ماء زمزم ابن حجر]

۱۱: دامام ابن عربی مالکی رحمة الله علیه نیت:

په۴۸۹ هق کی زه په مکه مکرمه کی وم اودزمزم اوبه میدېرېڅیښلې، اوکله چې میڅیښلې نونیت می داوچې الله جل جلاله وماته ډیرعلم راکی اوایمان، چې الله جل جلاله وماته ډیرعلم راکی، اودامی هیرشول چې دعمل غوښتولو نیت هم وکړم. (احکام القرآن

۱۲: دامام ابن الجزری رحمة الله علیه دپلارنیت:

دامام حافظ مقری ابن الجزری محمدبن محمدچې په ۸۳۳ هق کی وفات شوی دی دده په سوانحوکی داسی راځی:

دده پلارتاجرؤاودواده څخه وروسته تر۴۰ کلونوپوری کوم اولادنه درلودی هغه حج وکی اودزمز م اوبه ئې په دې نیت باندی وڅیښلې چې خدای وده ته یوعالم ځوی ورکی، چې الله همداسی وکړل اودتراویحوڅخه وروسته محمدجزری په ۷۵۱ هق کال کی پیداشو.

(الغایة شرح الهدایة فی علم الروية، رسالة ډاکتریت جامعه ام القری، قسم الکتاب والسنة، الضوء الامع)

۱۳: دامام حافظ ابن حجرعسقلانی رحمة الله علیه نیت:

حافظ ابن حجرعسقلانی رحمة الله علیه چې په ۸۵۲ ه ق کی وفات شوی دی داسی وایی:

ماپه۸۰۵ هق کی حج وکی اودحج په دوران کی می چې دلومړیځل لپاره دزمزم اوبه وڅیښلې نودانیت می وکی:

یاالله وماته دذهبی په ډول سره حفظ حدیث راکی، چې همدامقصدمی ترسره شو، اوعلم می دومره اضافه شوچې فتوی لیکل راته دومره اسانه شوچې زه دهیڅ مشکل سره نه یم مخامخ شوی، اوماپه ډیرمهارت سره په یوه ټوک کی (عجب الرهرفی فتاوی شهر) ولیکل.(الجواهروالدرر، جزء فی ماء زمزم، طبقات الحفاظ)

۱۴: دامام سیوطی رحمة الله علیه نیت:

امام ابوبکرسیوطی رحمة الله علیه چې په ۹۱۱ هق کی وفات شویدی داسی وایی :

کله چې زه وحج ته ولاړم نومادزمزم اوبه ددې مقصدلپاره وڅښلې چې په فقه کی دشيخ سراج الدين بلقينی رحمة الله عليه وځای اومرتبې ته ورسيږم، چې هغه امام اومجتهدؤچې په ۸۰۵ هق کی وفات شوی دی، اوپه احاديثوکی وحافظ ابن حجرعسقلان رحمة الله عليه ورتبې ته ورسيږم، چې همداسی وشول.

دامام سيوطی رحمة الله عليه په وخت ترده لوړرتبه عالم نه ؤکه څه هم دی دعمرپه لحاظ کشرووچې دده ټول شاګردان اونورعلماءوربااندی اتفاق لری.

[حسن المحاضرة، الجواهرالمعظم، نشرالآس]

۱۵: دشيخ احمدبن محمدآق شمس رحمة الله عليه نيت:

شيخ احمدبن محمدآق شمس رحمة الله عليه چې په۱۱۶۵ هق کی وفات شوی اود[الجوهرالمنظم] مصنف دی خپله کيسه داسی بيانوی:

زه په دې باندی اعتراف کوم چې ما څوځلی دزمزم اوبه وڅښلې اودڅښلوپرمهال می دوړواولويومشکلاتودحل نيت کړی دی، چېټول الله جل جلاله راته اسانه کړی دی، اوزه دخپل رب شکرګذارهيم چې زماسره ئې مرسته وکړه. [الجوهرالمنظم] [ دکوثر اوبه ]

<u>[ که يو کس باندي پيريان راغلل دهغي ښه کول ]</u>

که چيري يو کس پيريانو ونيوه نو دهغي د ښه کولو طريقه داده چي لاندي ايتونه ددي کس په غوږ کي ووايی او همدارنګه يی په اوبو کي دم کړی او وربانديوی څښی نو ان شاءالله دستي به ښه شي

[ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ وَقُلْ رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ]

ثبوت يی دا حديث دی [ أن رجلا مصابا مر به عبد الله بن مسعود ، فقرأ في أذنه هذه الآية : [ أفحسبتم أنما خلقناكم عبثا وأنكم إلينا لا ترجعون فتعالى الله الملك الحق ] ، حتى ختم السورة فبرأ تفسير ابن كثير في تفسيرهذه الاية ]

دوهمه طریقه

اوه ځله پري سورة الطارق یعني والسماء والطارق ووایی په غوږ کي یی چوپ کړی

دریمه طریقه

په ښي غوږ کي یی اذان چپ غوږ کي یی په اقامت ویلو سره هم پیریانو پورته کیږي

څلرومه طریقه

که پیریان حاضرول غواړی نو لاندي کلمات پري ووایی او بیا اخیر کي سورة المزمل پري ووایی نو ان شاءالله پیریان به حاضر شي بیا به توبه پري وباسی

کلمات دادي

[ اللهم ذا سلطان العظیم ولِمَنَّ القدیم ذا الوجه الکریم ولِیَ کلماتٍ تامَّاتٍ ولِدَعواتٍ المستجابات عاف الحسن والحسین من اعین الانس وانفس الجن ]

که چیري یوکس بد نظر نه حفاظت غواړي یا دشهواتو کنترول غواړي چي دشهوتونو نه په امان شي نو دا کلمات دولیږي او له ځان سره دیی وساتي او دهرلمانځه نه وروسته دې دا کلمات وایی همدارنګه کله کله دې یی په ورقه کي ولیکی او ودیی څښي ان شاءالله دغلطو نظرونو نه به په امان شي

[ دچا چي پرلپسي لوني پیدا کیږي دهغي علاج ]

که دیو کس پرلپسي لوني پیدا کیدلي یعني بچیاني یی پیدا کیدلي نو دهغي شرعي علاج دادی چي کله ښځه حمل واخلي نو د ښځي میړه یا بله ښځه دې ددي ښځي په نس باندي یو ځل کړی په ګوته تاو کوي او یامتین د وایی بیا دکړی تاو کړي یا متین دووایی اویا ځله دې دا کار تکراره وي ان شاءالله نارینه اولاد به الله ج ور کړي

دوهمه طریقه

بله طریقه یی داده چي داکس دې دا قصد وکړي که چیري زما بچی پیداشو نو نوم به یی محمد ایږدمه ان شاءالله الله ج دزړونو مالک دی زموږ ارادو ته ګوری نو نارینه اولاد به ورنصیب شي

[ كه ماشوم په خوب كي ډاريدلو ياې ډير ژړل دهغي علاج ]

كله چي ماشوم پيداشي نو په اولو شپو كي ډير ژاړي او په خوب كي ويريږي هم حتى ډير ماشومانو وروسته هم ويريږي نو دهغي علاج دادى چي درى درى ځله پري قل اغوذ برب الفلق او اعوذبرب الناس چوپ كړى او بيا په يو كاغذ كي دا كلمات ورته وليكى [ اعوذ بكلمات الله التامات من شركل شيطان وهامة وعين لامة ]

دوهمه طريقه

كه چيري ماشوم يا لوى كس په خوب كي ويريده نو لاندي كلمات د ووايې يا دې په كاغذ كي وليكل شي او دبالښت لاندي دې كيښودل شي ان شاءالله په خوب كي به نه ويريږي

[فليقل أعوذ بكلمات الله التامة من غضبه وسوء عقابه ومن شر الشياطين وأن يحضرون]

[ دهرقسم مريضي پيښيدو علاج ]

كه چيري يو كس ته مريضي پيښه شي هر قسم مريضي كه وي نو دهغي نه دعلاج طريقه داده چي په يو پياله يا قصعه كي الحمدلله او لاندي ايتونه وليكى او هره ورځ يې په مريض باندي وڅښې ان شاءالله كه ډيره سخته مريضي هم وي الله ج به يې صحتمند كړي هغه ايتونه دادي

[ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا قل هو للذين امنوا هدى وشفاء يخرج مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِلنَّاسِ ]

دوهمه طريقه

په يو ګيلاس كي قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس سورتونه ووايې بيايې په مريض باندي وپرشوى پري پاشي يې كړى ان شاءالله تكليف به يې ختم شي

[ وكانت عائشة تقرأ بالمعوذتين في إناء ثم تأمر أن يصب على المريض تفسير قرطبي سورت الاسراء ]

[ دسر درد علاج ]

که چیري دچا سر درد کولو نو دهغي ددم کولو طریقه داده چي دمریض سر دونیسي او تندی دې یی وسولوي او درى ځله دقل هو الله پري وایی او پري چوپ کوي دیی دایی موثر علاج دی

دوهمه طریقه

دمریض تندی دونیسي او دا کلمات دوایی او پري چوپ کوي دیی [ شافي الامراض یا دافع البلیات یا کافي المهمات یا شافي یاشافي یافي اللهم اشف له ودفع عنه وکف له ] درى ځله پري ووایی او هر ځل یی پري چوپ کوی او تندی یی وسولوی

دریمه طریقه

په اوداسه سره لاندي کلمات په یو کاغذ کي ولیکه او دبیمار په سر یا خولی کي یی دننه وتړه [ بسم الله الرحمن الرحیم وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ]

څلورمه طریقه

یا دا ایتونه په تیلو باندي درى درى ځله ووایی او په تیلو یی چپ کړی بیا پري دمریض سر غوړ کړی ان شاءالله شفاء به ورته حاصله شي

[ بسم الله الرحمن الرحیم وَبِالْحَقِّ أَنزَلْنَاهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ۗ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ]

[ دذهن د تیزولو او ژبي بندیدو علاج ]

کوم کس چي ذهن کي کمزورى وي نو دهغي علاج دادی چي دهر لمانځه نه وروسته دې په تندي لاس کیږدي او یولس ځله د یا قوی یا قوي ووایی

دوهمه طریقه

دچا چي ژبه بندیږي نو دسهار لمانځه وروسته دې ددي کس په خوله کي یوه خواره تیږه ونیسي او لاندي ایتونه د یویشت ځله ووایی پري هره ورځ دې دا عمل تکراروي ایتونه دادي

[رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي ]

دوهمه طريقه

که دچا ذهن کمزوری وي یایی ژبه بندیږي نو په یو بیسکوټ باندي الحمدلله ولیکه او په دي کس یی وخوری څلویښت ورځي دا عمل تر سره کړی ذهن به یی تیز شي او ژبه به خلاصه شي

[ دتبې دعلاج لپاره ]

که چیري دیو کس تبه وي نو که ګرمه تبه یی وي نو په سړو اوبو دغسل وکړي او یا دي دا دعا ووایی

[ قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ]

[ دسخت مشکل کار سره دمخامخ کیدو دعا ]

که چیري کوم کس دسخت مشکل کار سره مخامخ شو نو هغه دلاندي دعا ووایی

[ لا إله إلا أنت سبحانك ربّ العالمين، لك الحمد، ولك الملك لا شريك لك. ]

[ دنس درد لپاره دعا ]

که دچانس سخت درد کولو نو په هغي دې دا دعا وویل شي یا دخپله دا دعا ووایی

[ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُونَ ]

# تـــمـــت بالخـــيـــر

**العبدالاحقر: عبیدالله عبیدالله الحنفی ګلشاخیل اورګون ګلشاخیل**

[ دکتاب پای ]

الحمدلله رب العلمين والصلاة والسلام على من لانبي بعده.

دالله ج څخه ډير شکر ګذار يم چي ما عبيدالله عبيد ګلشاخيل ته يې د پورته کتاب [ دماشومانو شرعي نومونه ] چي زما د کتابونو دليکلو دلړى په برخه کي څوارلسم کتاب دى دليکلو توفيق راکړو الله ج دما په دي کتاب سره ماجور وګرځوي او دهدايت سبب يې راته وګرځوي

تر ټولو ښه خبره داده چي که چيري يو مسلمان ورور هم دا کتاب ولولي او ددي له مخي په خپلو ماشومانو شرعي نووونه کيږدي نو ان شاءالله دا به زما لپاره صدقه جاريه وي الله ج موږ تاسو ټول دحق تابع وګرځوي ان شاءالله تعالى چي راتلونکي پنځلسم کتاب به زما د متشابهاتو باره کي د وهابي خناسانو د شبهاتو ردول او دمتوسطي عقيدي بيانول وي

[ زما نور ليږل شوي کتابونه ]

| | |
|---|---|
| تحفة الخراسان | التركيب الكامل |
| شهاب المرصاد في مسائل الجهاد... | التركيب البسيط |
| پاکستان کي ددجال لښکري | برهان الصرف شرح بارشاد الصرف |
| اسلام څه وايي | دسراجي تمرينونو حل |
| نشنليزم او اسلام [نيمګړى ] | مجمع البياب المجلدين [ نيمګړى ] |
| المسائل الشتى في ضوء الشريعة | د نحوي مختصره اجراء |
| خلاصه شوى نحومير [ ژباړه ] | حلاوة النحو شرح هداية النحو المعرب |
| حاشية زرادي علي کتاب زراديِ | دماشومانو لپاره شرعي نومونه |